شهادت

ارگان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

(٤) صحه

شمارهٔ مسلسل (٩٤٦) سال هژدهم -شمارهٔ (٣٢) سه شنبه (١٦) جوزاي ١٣٧٤ هـ ش (٨) محرم الحرام ١٤١٥ هـ ش (٦) جون ١٩٩٥ م _ قيمت (١٥٠) افغاني (٢ روپيه)

حضرت صبغت الله مجدي بابرادر حکمتيار ملاقات نمود

جلال اباد ١٥ جوزا :

محترم حضرت صبغت الله مجددي رئيس شوراي عالي همآهنگي ورئيس جبههٔ نجات ملي ديروز در جلال آباد بابرادر حکمتيار اميرحزب اسلامي افغانستان ديدار وملاقات نمود.

خبرنگار شهادت از شهر جلال آباد گزارش ميدهد که عصر روز دوشنبه در قصر باغ ذخيرهٔ شهر جلال اباد محترم حضرت صبغت الله مجددي که جناب مولوي عبدالباقي ترکستاني نمايندهٔ جنبش ملي اسلامي ومحترم حشمت الله مجددي نيز او را همراهي ميکردند بابرادر حکمتيارامیرحزب اسلامي افغانستان ديدار نمود .

درگزارش آمده است طي اين ملاقات برادر حکمتيار ومحترم حضرت مجددي روي مسائل جاري کشور بخصوص درمورد گردهمايي سران يا نمايندگان احزاب جهادي در ولايت ننگرهار بحث وتبادل نظر نمودند .

گزارش مي افزايد اين ملاقات که مدت دو ساعت ادامه داشت ساعت هفت شام پايان يافت .

مستيري بيا افغانستان ته راځي

دخبرګزارۍ ١٥

ديپلوماتيکي منابع وايي چي دافغانستان [illegible] دمنګړيملتونو ځانګړی [illegible]

مستيري به دوي دري اونۍ وروسته بيرته افغانستان ته راشي او دلته به د سولي کوششونه له [illegible] پيل کړي .

نوموړي منابع وايي چي دمستيري دتګ مطلب دادي چي په افغانستان کي ټولي ډلي ديته بياراوبولي چي دسولي پروسه ګړندي کړي.

منبع زياتوي چي ملګري ملتونه له ټولوډلونه په افغانستان کي دسولي دراوستلو په لاره کي دمعاونت اومرستي تمه کوي .

دحزب اسلامي مجاهد اميرورور حکمتيار د تيري جمعي په ورځ دشينوارو په لويي ولسوالي کي ګڼ شمير لمونځ کونکو ته په وينا کي :

ځوک چي دسولي له پاره دقرباني عزم نه لري هغوی تل په غلامی کی ژوند کوی

• مونږ به ددی له پاره ملاتړ و چي په هيواد کي سوله راشي او اسلامي حکومت قايم شي

• ائتلافي اداري پريکړه کړي چي له حزب اسلامي سره دخبرو اترو دروازه بنده کړي او په مقابل کښي يي افراد په پيسو واخلي

درولايت لوگر :

درگيري ميان قواي ادارهٔ کابل وطالبان تلفات وخسارات زيادي برجاي گذاشت

محمد آغه - ١٥ جوزا :

تعرض نيروهاي اداره کابل عليه طالبان درولايت لوگر عقب زده شد .

گزارش راديو پيام آزادي ازولايت لوگر حاکيست روز گذشته افراد شوراي نظار بالاي مواضع طالبان درقريه گمران ولسوالي محمد آغه دست به يك تعرض زدند که به ناکامي انجاميد.

گزارش مي افزايد تعرض افراد شوراي نظار بامقاومت نيروهاي طالبان رو برو گرديده درنتيجه جنگ شديدي ميان طرفين مشتعل گرديد که بر اثر آن هشت تن ازافراد شوراي نظار کشته ويامجروح گرديده علاوه بر آن يك دستگاه (اپ ام - ١٢) يك ميل زيکاويك يك چاين تانك زرهي آنان نيز از بين رفته است .

درخبر آمده است در جريان اين نبرد خونين شش ساعته دوتن از گروه طالبان نيزکشته شده و سه تن ازاهالي بي دفاع منطقه به شهادت رسيده وچندين باب منزل مسکوني هدف توپ وراکت قواي طرفين قرار گرفته وبه خاك يکسان گرديده است . در خبر آمده است که درين نبرد افراد ادارهٔ کابل سه موضع مستحکم خويش را در نواحي سفيدسنگ ازدست داده اند.

منابع مربوط به اداره کابل اظهار داشته اند که در جريان اين درگيري چندين موضع طالبان را تسخيرنموده وتلفات وخساراتي برآنها وارد نموده اند.

په بروندي کي يو ځل بيا وقفوي جګړي پيل شوي

بوجومبرا - دخبرګولي (١٥) مه

پربروندي کي دهوتوو قبيلي دمليشو او د توتسي ترمنځ چي اکثريت يي د ګوشتي دقبيلي کسان دي خال خال نښتي پيل شوي دي .

د رويټر خبري آژانس وايي چي د نوموړي هيواد په پايتخت بوجومبرا کي ددغو جنګو په اړه کوم تفصيلات ندي تر لاسه شوي مګر دښار اوسيدونکو ويلي چي ډزبزيات مړي اوس هم دښار په لارو کوڅو کي پراته دي .

####

دبغلان په ولايت کي دحزب اسلامي مجاهدينو :

دکابل ادارې (١٣) ستراتيژيک مرکزونه ونيول

بغلان -دخبرګولي (١٥) :

دبغلان ولايت څخه دحزب اسلامي وياړمن قوماندان بشيرخان په خپل يوه مخابروي رپوټ کي ليکلي پرون دخبرګولي دمياشتي په (١٤) مه نيټه دحزب اسلامي وياړمنو غازيانو دخپل يوه تعرضي بريد په ترڅ کي دجلوګيرپه شاوخوا سيمه کي ددښمن (٨) ستراتيژيك مرکزونه ونيول.

محترم بشير خان ليکي چي همدا راز د نوموړي ولايت په لويديز برخه کي د درياب په غاړه زمونږ وياړمنو غازيانو ديوه بل بريد په ترڅ کي هم ددښمن (٥) ستراتيژيك مرکزونه ونيول اوددښمنو ځواکونو (٧) کسه يي مړه [illegible]

اوګڼ شمير نوريي ټپيان کړي دي .

وروو بشيرخان زياتوي چي مجاهدينو [illegible] خپل دي بريالي بريد کي يوعراده زغرده ټانك ،يوعراده جيپ موټر ، يوميل زيکاويك يوميل هاوان ٢ ميله کلاشنکوفونه په غنيمت نيولي اوه مجاهدينو تصفيوي [illegible] عمليات اوس دعلي آباد په لور په چټکۍ سره روان دي.

نجيب الله عرفان سخنگوي طالبان :

طالبان بنابرتعهدی که مسعود با آنها نموده بود به چهارآسیاب حمله نموده [illegible]

پيشاور - ١٥ جوزا:

نجيب الله عرفان يکتن ازسخنگويان گروه طالبان طي کنفرانس مطبوعاتي درپشاور گفته استکه آنها چهار آسياب رابه خاطر اينکه براي مردم منطقه ضرر نرسد به افراد ادارهٔ کابل تخليه نموده بودند وي افزود قبل ازآنکه چهار آسياب را تخليه کنيم تمام سلاح هاي موجود درين منطقه را به قندهارنقل داده بوديم .

براساس گزارش مطبوعات پاکستان نجيب الله عرفان اظهارداشت احمدشاه مسعود مارابه حمله برمواضع حزب اسلامي در چهار آسياب تشويق نمود وما هم بنابرهمين علت مواضع حزب اسلامي درين منطقه راموردحمله قرار داديم . زيرا وي وعده داده بود اگرحزب اسلامي رااز سر راه برداشتيم ادارهٔ کابل رابه شما مي سپارم.

امازمانيکه حزب اسلامي چهار آسياب راتخليه نمود واين منطقه بدست طالبان افتاد ، مسعود برخلاف تعهدي که باماداشت بالاي مواضع ماحمله نمود.

نجيب الله عرفان اوام وارد کرد که [illegible] حالا دولت ايران بانورن اسمعيل خان [illegible] کمك مينمايد وعلاوه به ايران دولت هندوروس نيز درامور داخلي افغانستان [illegible] مينمايند.

نجيب الله عرفان علاوه نمود ٣ جهت حمله برکابل آماده گي [illegible] عنقريب بر کابل حمله خواهند کرد

اکثريت امريکايي ها طرفدار استفاده ازقواي امريکا در بوسنيا اند

واشنگتن - ١٥ جوزا

يك بررسي مجله خبري " نيوزويك نشان ميدهد که اکثريت مردم امريکا ازاستفادهٔ عساکرامريکايي دربوسنيا حمايت ميکنند.

اين بررسي نشان ميدهد که تقريباً ٧٨ درصد امريکايي ها از استفاده ازعساکر امريکايي جهت نجات عساکرملل متحد که توسط قواي صربها به گروگان گرفته شده اند،حمايت ميکنند.

درنيوزويك آمده است که بيش از شصت درصد آنانيکه از آنها پرسش به عمل آمد به استفاده ازقواي زميني امريکا درمساعي جهت حفظ صلح وحمايت از قواي امدادي رضايت نشان داده اند. اين درحاليست که کلنټن روزشنبه استفاده ازقواي زميني امريکا را در بوسنيا رد کرده بود .

دننگرهار - لغمان اوکنړ په ولايتونو کي [illegible]

[illegible]

اوده کنړونو دجهادي شوراګانو [illegible] دحزب اسلامي افغانستان له مجاهد امير وورور حکمتيار سره وکتل.

ولايتونو په هکله معلومات ورکړل او [illegible] پره نيم ساعت خبرواترو نه وروسته ډېرو اړخونو په خوشحالي پاي ته ورسيده .

ناآرامی درشهر کراچی روبه افزایش وگسترش است

اسلام آباد - ١٥ جوزا:

ناآرامي هاي فرقوي درشهرکراچي پاکستان همچنان جريان داشته ودرگيري روز يکشنبه درين شهر به تعداد (٧) کشته و (١٢) مجروح برجاي گذاشت و (٢١) عراده وسايل نقليه طعمه حريق گرديد .

گزارش [illegible] مطبوعات پاکستان [illegible] درگيري [illegible] قسمت هاي شرقي [illegible] مرکزي شهر کراچي رخ داد [illegible] تعداد [illegible] گارمندان بين [illegible] هاي شان اختطاف نموده [illegible] نامعلوم انتقال داده اند که تاحال [illegible] معلوم نيست .

گزارش مي افزايد که پوليس شهر کراچي چهار تن از مخالفين دولت را هنگامي

(٤)مخ

(٤)مخ

عساکر روسی مدعی تسخیر یك سنگر مستحکم مبارزان چیچن شده اند

گروزني - ١٥ جوزا

عساکر روسي در جمهوريت چيچن ميگويند يك موضع عمده مبارزين چيچن را در دامنه کوه هاي قفقاز تسخيرکرده اند.

به گزارش خبرگزاري روسيه جنگ شديد از چندين روز به اينطرف دراطراف قريه رنگيتو ادامه دارد اين قريه در جنوب شرق گروزني دريکدره جنگلي قرار دارد.

مقامات روسي [illegible] ادعا [illegible] کرده [illegible] مبارزين چيچن ميگويند خونيني هنوز هم در [illegible] درمناطق کوهستاني قفقاز ادامه دارد.

درين نبردها [illegible] تن از عساکر روسي کشته ويامجروح گرديده اند

درخبرگفته شده که [illegible] بلاوقفه اسلحه ثقيل [illegible] ازاهالي بي دفاع منطقه [illegible] ده هاراس مواشي کشته [illegible] مسکوني مردم با خاك يکسان [illegible]

دحزب وحدت اسلامي دمرکزي شوري غړي محترم محمد يوسف "واحدي" په يوي راديويي مرکه کي :

د رباني اومسعود انحصار طلبي دجگړي عامل دي

• په شمال کي چي دکابل اداري کوم تحرکات پيل کړي ؤ هغه دهماهنګي شوري له خواخنثي شول

پيښور - دخبرګولي ٢٥ :

مونږ بأميان او د باميانو شا وخواټولي سيمي تصفيه کړي دي اوس زمونږ قواوي ددوآب اوداوتاپوريه سيمو کي ځاي پرځاي دي.

دا خبري د حزب وحدت اسلامي دمرکزي شوري غړي محترم محمد يوسف واحدي ، ديوي مرکي په ترڅ کي وکړي .

واحدي ددي پوښتني په ځواب کي چي د خنجانو داوروستي جګړي پوازي ددولت اوجنبش دقواو ترمنځ وه يا دهماهنګي شورا قواوي هم پکي شاملي وي وويل دخنجان او دهغه دشاوخوا سيمو په جګړه کي دهماهنګي دشورا ټولي قواوي شاملي وي د جګړي د علت په باب ده ديوي پوښتني په ځواب کي وويل چي تاسو او ټولي نړي ته په د رباني اومسعود دانحصار طلبي سياست معلوم شوي

ص (٣)

روسیه و هند بخاطر رهایي نجیب تلاش مینمایند .

کابل - ١٥ جوزا:

به تعقيب شکست مذاکرات ميان نمايندگان ادارهٔ کابل وجنبش ملي که با پا درمياني هندو روسيه جريان داشت اکنون اين دوکشور ميکوشند سران ادارهٔ کابل را به رها ساختن داکترنجيب رئيس رژيم کمونيست قبلي متقاعد سازند .

گزارش هاي رسيده ازکابل حاکيست هيئت هاي رسمي هند و روسيه به کابل رفت وآمد داشته و بخاطر رهايي نجيب تلاش مينمايند. هدف اين دوکشور از رهايي نجيب تحکيم پايه هاي سران ادارهٔ کابل وايجاد پشتيبانه براي اداره است.

کابل تذکراست که درين اواخر [illegible] احمد ولي که [illegible] آن [illegible] بارهاخواستار رهايي [illegible]

روس اوهند په دی لته کی دی چی افغانستان تجزیه کړي

استاد سعيد

پيښور دخبرګولي ٢٥ :

دحزب اسلامي افغانستان وياند استاد قريب الرحمن سعيد ويلي ترڅو چي دکابل داداري پرخلاف ټول ځواکونه سره متحد نشي تر هغه پوري سياسي هلي ځلي کومه نتيجه نه ورکوي

ده ديوي مرکي په ترڅ کي وويل استاد رباني ته اوس شه فرصت په لاس ورغلي ترڅو دولتي امورات دټولو ګوندونو يوي ګډي شوراي ته وسپاري.

ده د ملګرو ملتونو دهڅو په اړوند وويل دملګرو ملتو پروسه هغه وخت کامیابیدای شي چي ملګري ملتونه او هغه هيوادونه چي ددغي اداري دهڅو ملاتړ کوي ——— دکابل پر اداري فشار واچوي او خپل سفارتي تعلقات ورسره وځنډوي ترڅو هغه دي ته اړه شي چي واك يوي بي طرفي شورا ته وسپاري ترڅو يو ملي اردو جوړ اوعامو انتخاباتو ته لاره هواره کړي شي اودهغه وروسته پوواقعي پياوړي اسلامي حکومت په افغانستان کي قايم کړي شي.

وروو سعيد وويل دکابل اداره د پخوا نه

ص (٢)

اختلافات سیاسي موجب کمبود آب وشیوع امراض گوناگون دردهلی شده است

دهلي جديد - ١٥ جوزا:

درهند در حاليکه شدت گرمي روبه افزايش است منازعه سياسي بين دهلي جديد وايالت مجاور آن (آريانا) باعث قلت آب دردهلي پايتخت هند شده است .

يکتن ازخبرنگاران خارجي گزارش داده است که با ادامه کشمکش بين مامورين احزاب مخالف مشکلات ناشي از کمبود آب دردهلي جديدً احتمالاً افزايش خواهد يافت.

درين گزارش آمده است که آب درماه هاي گرم سال اهميت زياد داشته و [illegible] گرمترين ماه سال درشمال هند [illegible] امسال جريان آب دردهلي جديد به خاطر منازعه سياسي متوقف شده است [illegible]

سرمقاله

پنام خدایکه بی اندازه مهربان وبهایت بارحم است

يو ځل بيا په ننګرهار کښي دسولي غونډه

ننګرهار زمونږ دګران هيواد داسلامي انقلاب په دوران کښي دانقلاب د دروازي رول لوبولي دي اودکمونيستي رژيم له ړنګيدو وروسته يي په هيواد کښي دسولي اوامنيت په خاطر دسولي اوجرګو دکور نوم اوشهرت ترلاسه کړي دي، زمونږ هيوادوال ګواه دي چي څه له پاسه تيرو دري کلونوپه ديخوا نه يوازي دا چي په ننګرهار کښي سوله اوامنيت دي او ددغه ولايت مسلمان وګړي د وروري په فضا کښي ژوند کوي لاچي دهيواد دبيا ودانۍ چاري بي په چټکتيا سره جريان لري ، چي دبهرنيو مرستندويو موسسودبيا ودانۍ کارونه يي دبادونې اوستاينې وړدي ، همدارنګه دننګرهارمرکز جلال آباد ښار څوځلي دمجاهدو رهبرانو ترمنځ دسولي دخبرو اترو دکوربه حيثيت ګټلی دي اودتاريخي معاهدو اوتړونونو شاهد او ګواه دي.

په دي ورځوکښي يعني همدا نن اوسبا کيداي شي په ننګرهار کښي دجهادي رهبرانو ترمنځ هيواد ته دسولي اوامنيت دراتګ اوټولو خواوته دمنلو وړ حکومت دقيام په خاطر خبري اتري پيل شي.

دتيري يکشنبي په شپه دننګرهار ولايت والي اومشرقي شوري رئيس الحاج عبدالقديرله بي بي سي راډيو سره په مرکه کښي وويل ،ننګرهار تل په هيواد کښي دسولي دمځته راتلو په خاطر هلي ځلي کړي دي او دادي يو ځل بيا مو په هيواد کښي دسولي اوامنيت دټينګښت په خاطر دجهادي رهبرانو غونډه رابللي ده او ټولو جهادي مشرانو په دي غونډه کښي دګډون هوکړه راسره کړي هم ده نوموړي په ځانګړي توګه ديوي پوښتني په ځواب کښي وويل چي دکابل داداري رئيس رباني به هم په دي غونډه کښي دګډون له پاره جلال آباد ته راشي .

خو تيره ورځ يعني د دوشنبي په سهار ني خپرونه کښي همدي راډيو پخپل خبري سروس کښي وويل چي د جلال آباد په غونډه کښي دګډون له پاره د ائتلافي اداري دکرني وزير سيد نورالله "عماد " جلال آباد ته راغلي او بيا يي په اسلام اباد کښي درباني ځانګړي نماينده مسعود "خليلي " له خولي وويل چي کيداي شي ، په دي غونډه کښي رباني اوسياف هم ګډون وکړي.

د يوه بل خبر له مخي د ملي نجات دجبهي رئيس اودهمآهنګي شوري رئيس حضرت صبغت الله "مجددي " هم دجلال آباد په غونډه کښي دګډون له پاره له پيښور نه جلال آباد ته راورسيده اوامکان لري چي دطالبانو دتحريك مشران هم په دي غونډه کښي دګډون له پاره جلال آباد ته راشي.

له روانو حالاتو اوخبرونو څرګنديږي چي کيداي شي جلال آباد يو ځل بيا د جهادي رهبرانو ترمنځ دسولي دراتګ په خاطر دخبرو اترو وياړوګټي ، خودا په جهادي رهبرانو پوري اړه لري چي په څه ډول له اوسني بحران نه خپل ځانونه اوباسي ،اوڅه ډول دملت غوښتنو ته دنفس او هوا پرغوښتنو لومړيتوب ورکوي ؟ او دخپل مظلوم ولس هيلواوارزوګانو ته مثبت ځواب وايي.

په خورا افسوس سره بايد يادونه وکړو ، چي دانقلاب له بيله ترننه پوري په پرله پسي ډول دداخلي اوبهرنيو منځګړيو په وسيله جهادي رهبران دمذاکراتو اوخبرواترو ميز ته رابلل شوي دي ، خونتايج يي يوځو اعلاميو اوخبري رسنيو له پاره دتازه خبرونو پرته په عملي ډګر کښي له صفر سره برابر دي ، ددغه ډول مذاکراتو په خاطر هر ځلي په مليونو پيسي مصرف شوي بهرني اوداخلي مصلحتونو په کښي په ديراخلاص سره برخه اخيستي ده .

خونتايج يي پرته له ناکامي او نهيلي بل څه نه دي ، له دي امله دا ځل هم دجلال اباد مذاکراتو نه دخلکو هيله مندي زياته نه بريښي اونه يي دخلکو پاملرنه ځان په لورجلب کړي ده.

په اوسنيو شرايطو کښي چي ائتلافي اداري دکابل په شاوخوا کښي يوڅه مهاليز برياليتوبونه ترلاسه کړي دي، اوهم دنړيوال سياست په ډګر کښي دامريکا دنړيوال نظام په مقابل کښي دهند ، روس ، ايران اوچين دګو بلاك د جوړيدو امکان دافغانستان اهميت يوځل بيا زيات کړي دي. اوهغه په دي خاطرچي دهند، روس اوچين هيوادونه د منځني

(٤)مخ

سخن روز

آیامردم از جهاد خسته شده اند؟

اصالت همیشگي ودایمي ارزش ها وتلاش نافرجام استکبار

سرکاتب

بسيار اند افرادي که براي درك علل وعوامل اصلي قضايا ذهن شانرا زحمت نميدهند ودر برخورد با مسايل وپيش آمد هابه‌داوريهاي عاميانه وسطحي مي نشينند ، عناوين زيادي وجود دارد که ميتوان درمحور اين مطلب روي آن بحث کرد و مضمون نوشت .

اينکه جايي مينويسند ويا ميخوانيم که گاهي از نام جهاد اظهارخستگي ميشود ويا به بهانه مصايب ومشکلات از زنگ ورو رفتن ساير ارزش‌ها صحبت بيان مي آيد، انگيزه اش همان است که متکلمان ومدعيان اين نوع صحبت ها درکانالست نگري وکوتاه انديشي افتاده اند.

به ارتباط موضوعيکه در بالا مطرح کرديم ، دوستي ادعا داشت و روي اين حرف خود پيوسته ايستادگي ميکرد که گويا مردم ازنام جهاد ديگر خسته شده اند، اين دوست که دريکي از قراي نزديك کابل رفت وآمد کرده بود ميگفت :" وقتي من در آن قريه به عابرين سلام ميکنم ، اکثر سلام مرا عليکم نميگويند در حاليکه من با آن افراد شناخت قبلي ندارم واينطورميفهمم که آنها فقط همينکه مي بينند من ريش وپکول دارم ، با من برخورد خوب نميکنند !! "

اما همين دوست مسلح که مدت زيادي در آن قريه ماندگار شده بود ، در ديدار چند ماه بعد تر ، نظر کاملاً متفاوت وخوشبينانه داشت وبرخلاف آنچه درگذشته تصور ميکرد ، حالا معتقد شده بود که مردم نه از ريش خسته شده اند ونه ازنام جهاد، بگفته او اگرمردم سلوك ومعاشره نيك رامشاهده کنند ودر مورد افراد شناخت درست پيدا نمايند ، آدم ريشدار وجهاد کرده رابيشتر گرامي ميدارند واحترام ميگذارند.

نتيجه اينکه تمام ارزش هاي اخلاقي و ديني درميان جامعه بنيادهاي خيلي محکم و پا برجا دارد و اين ارزش ها درتمام دنياودرنزد هر فرقه وجماعتي به حيث يك " ارزش "وبه‌حيث مفاهيم پربها ، جايگاه خودش را هميشه متعالي ومحفوظ نگهميدارد . در بينش ديني و عقيدتي خود به اين اصل ميرسيم که تمام انسانها در مبناي خلقت"فطرت مشترك انساني و الهي دارند ، وهمينطور ميتوان ادعا کرد که هر جامعه وتوده بصورت طبيعي يك رجحان وتمايلي بطرف معنويت ، اخلاق وحقيقت دارد. به همين موجب است که درهرجامعه به ارزش هاي ديني واخلاقي قيمت داده ميشود.

چنانچه مثلاً " صداقت " يك ارزش است وآدم صادق وراستکار درهمه جا وهر زمان ومکان ودر پيشگاه هرنظام سيستم وطريقه اي ،برمسند عزت وکرامت مي نشيند .

به همين سلسله ارزش هاي ديگر مثل ، شجاعت ، ديانت ، جوانمردي پر هيز گاري وهمينطور ارزش هاي نظير جهاد و مقاومت که در همه جا وتحت هرگونه شرايطي درمورد فرد ويا افرادي محقق شود ، احساس محبت ديگران راتحريك ميکند وبراي آن فرد ، وزن وقار مي آورد.

به اين حساب قضيه روش است ، يعني دگرگوني بر خوردها وتعلق ها دربرابر يك ارزش به اين علت تغيير نميخورد که گويا مردم درنفس آن ارزش ها تردد پيدا کرده اند.

بلي ،مشکل از همان ناحيه ابهام وسطحي نگريست که در ايجاد آن هم مردم وهم فرد يا افرادي که آن ارزش ها را با خود حمل ميکنند ، سهم مشترك ايفا کرده اند. گفتيم همه درمجراي طبيعي به ارزشها يك سان احترام ميگذارند، ولي آنها بيکه بخاطر کسب امتيازات از مسير طبيعي زندگي بيرون رفته وبذرايع منفي پناه ميبرند ، يا اينکه در ما في الضمير ودر پرده وجدان به اصالت " ارزش ها " قايل ومعترف اند ، باتمام قوا درمعارضه با اين ارزشها موضعگيري ميکنند ، کسانيکه بزعم خود شان دوران ريشدار ها وجهاد کرده ها را تمام شده ميپندارند ، ازهمين زمره اند.

البته واضحست حساب آنعده که شعوري در برابر ارزشهاي اخلاقي و در برابر جهاد صف بندي کرده اند از حساب مردميکه بطور عاطفي وسطحي ظاهراً مخالف آن ارزشها واقع شده اند جداست .

اما براي اينکه استکبار يعني جريان مخالفين شعوري ارزشها از جريان مخالفين سطحي وغير شعوري نتواند بهره گيري نمايد وظيفه جهاد گران صادق ويا اصالت اين است که صادقانه و بي ريا با مردم درتماس باشند وبهر توان وامکان لازم درخدمت مردم بذل مساعي نمايند.

کوچکترين فعاليت ومحدود تماس يك عنصر سالم ميتواند فعاليت وسيع مخالفين شعوري جهاد را خنثي نمايد واذهان مغشوش را به شعاع وسيعي تنوير نمايد . جريان مخالفين شعوري اگر چه که حمايت استکبار جهاني را در عقب خود دارد ولي درنهايت محکوم به نابودي وزوال ميباشد زيرا اين مخالفين پايگاه منطقي ومثبت ندارند ودر برابر کمترين ايستادگي ومقاومت جريان با اصالت ومثبت ، پشت ميگردانند وشکست ميخورند .

انتظار استکبار جهاني در راس و انتظار عناصر آلت دست درخصوص اينکه ارزش هاي اخلاقي وارزش هاي جهادي رنگ وروي خود را ازدست بدهد واز محراق فکر مردم سقوط کند ، يك انتظار پوچ وبيهوده است . هر طوري باشد ومصايب وآلام هر قدر براي اهداف مخالفين جهاد زمينه سازي نمايد ،ارزش هاي جهاد واصالت جهاد گران که منطبق برارزشهاي متعالي ،منطقي ومعنوي ميباشند ، ازميان همه مشکلات راه خود رامپکشد وپيروز شده ويك جامعه آرام وايده آل اسلامي ، سرانجام محقق ومسجل ميگردد .

واژهٔ مقدس صلح نباید تحریف گردد

حامد

گزارش شده است که علاوه برملاقات نمايندگان بعضي ازکشور هاي خارجي با برخي از رهبران وشوراي ننگرهار ،شهر جلال آباد بتاريخ پانزدهم ماه جوزاي سال جاري محل انعقاد اجلاس رهبران سياسي افغانستان خواهد بود.

گزارش ميشود که شهر جلال آباد و شوراي ننگرهار بار ديگر ميزبان هيئت هاي صلح خواهند بود.

طوريکه ميدانيم تلاشهاي اين هيئت ها ظاهراً به جستجوي راه حلي جهت نجات کشور از بحران خانمان برانداز کنوني حاکم برافغانستان ، متمرکز خواهد بود .

درمرحله اول شايد اينگونه به نظربرسد که هيئت صلح همانطوريکه ازاسمش پيداست يك وظيفه دارد که همانا گردهم آوري رهبران بانمايندگان گروههاي متحارب و درگير پشت ميز مذاکره وايجاد مصالحه وبرقراري صلح بين آنان ،هست .

هکذا ، کلمه صلح نيز داراي مفهوم متفق عليه خاتمه جنگ است .

بلي ! اگر صرف به کلمات اکتفا شود ، هيئت صلح و خود کلمه صلح چنين مفاهيمي را افاده ميکنند .

اما ،تجارب بشر در اقصاي نقاط جهان نشان داده است که کلمه صلح وصلح خواهي مانند آزادي وآزاديخواهي ازکلماتيست که در ادوار مختلف قرباني تاويلات وتحريفات اعجاب آوري گرديده اند.

افغانستان و تلاشهاي صلح جويانه درافغانستان نيز ازين فارمول مستثني نبوده است.

مثلاً دردوران جهاد ، بالخصوص پس از آنکه برورهبران کريملين ثابت شد کهماشين جنگي امپراطوري اتحاد جماهير شوروي سوسياليستي وپکت وارسا توانايي شکست نظامي مجاهدين افغان راندارند ...

- رهبران کريملين هم دم از صلح وصلح خواهي ميزدند وهم مجاهدين !

يعني هم رهبران کريملين ميگفتند که ما درافغانستان خواهان صلح هستيم و حتي براي استقرار صلح درآنکشور ازبذل جان عساکر خود دريغ نمي ورزيم ! وهم مجاهدين افغان ادعا ميکردند که خواهان صلح درافغانستان بوده ودرين راه يعني اعاده صلح ازبذل جان خويش نيز دريغ نمي ورزند .

در برخورد اول ، اينگونه به نظر ميرسيد که اقلاً يکي از طرفين درگيريعني يااقواي متجاوز روسيه کمونست ويا اينکه مجاهدين افغان دروغ ميگويند.

اما ، بااندکي تعمق ميتوان دريافت که هيچ يك ازطرفين دروغ نمي گويند . پس سوال اين بود که هرگاه هيچ يك از طرفين دروغ نگويند وهردو خواهان صلح باشند ، جنگ برسرچيست؟

بلي ! واقعيت امر همين بود که هردوطرف صلح ميخواستند ولي هرکدام تعبير وتفسيرخاص خود را از کلمه صلح داشتند .

منظور رهبران کريملين از صلح اينبود که ملت مسلمان افغان دست از مقاومت ومبارزه عليه متجاوزين برداشته و حاکميت کمونيزم رابرکشور شان بپذيرند .

از نظر کريملين ، هرگاه افغانان مسلمان در برابر چکمه هاي عساکر پکت وارساسرتسليم ميگذاشتند ، جنگ در افغانستان به پايان رسيده ، صلح نه تنها در افغانستان بلکه درمنطقه برقرار گرديده وکريملين گل و دنيا گلزار ميشد.

اما ، مجاهدين افغان تعبير وتأويل ديگري از صلح داشتند . مجاهدين افغان ادعا ميکردند ، هرگاه قواي پکت وارسا ازافغانستان انسحاب کنند و مداخلات KG.B در افغانستان متوقف گردد ، جنگ به پايان رسيده وصلح بر قرار ميگردد.

اينك يعني درماه جوزاي سال ۱۳۷٤ اوضاع ازين قراراست.

اگرشما از مردم افغانستان وامير حزب اسلامي يعني حکمتيار بپرسيد که شما در افغانستان چه ميخواهيد ملت افغان و حکمتيار يك صداميگويند ! خاتمه جنگ واعاده صلح !

حکمتيار ميگويد مابخاطر صلح جهاد رادر افغانستان آغاز کرديم ومردم ميگويند مابخاطر صلح از مجاهدين حمايت کرديم وبراي پيروزي شان دعا .

اگر از نماينده طالبان بپرسيد که شما چه ميخواهيد . ميگويند : ما صلح ميخواهيم وبخاطر صلح بود که شعار خلع سلاح عمومي را سرداده و جنگ را آغاز کرديم تاکار بالاخره به اين جارسيد.

اگر شما از نماينده اداره ائتلافي کابل بپرسيد که شماچه ميخواهيد ؟! ميگويد : ما صلح ميخواهيم وبخاطر استقرار صلح در افغانستان بود که دست بدامان دشمنان ملت افغان يعني روسها يازيده وازآنان خواستيم که ميان ماومخالفين ماميانجيگري کنند .

باين ترتيب مي بينيم که همه دم از صلح ميزنند ولي بازهم درافغانستان جنگ ادامه دارد.

علت اين امراينست که هر جناح تعبير خاص خود رااز صلح دارد.

و اما ، بياييم برسر اين نکته که منظور ماازصلح چيست ؟

منظورما از صلح اينست که گروههاي متحارب و درگير بادرس گرفتن از تجارب تلخ وناکام سه سال اخير ،صادقانه دست از جنگ برداشته ودرجهت تامين امنيت سرتاسري ،پس ازين همه جنگ وخونريزي ،باهمدگردست برادري بدهند.

جناحيکه نميتواند غرور ناشي از تفوق نسبي نظامي خود را کتمان کند ، نبايد درزير شعار صلح خواهي درصدد اعمال حاکميت گروه خود بر سرتاسر کشور باشد.

حزب اسلامي افغانستان بخاطر جلوگيري از توسعه وادامه جنگ ، داوطلبانه از چهار آسياب عقب نشيني کرد وبخاطر تلاش درجهت تامين صلح از هرگونه درگيري نظامي وسياسي اجتناب ورزيد . واميدوار است بحران افغانستان علي الرغم ترکتازيهاي سران اداره ائتلافي کابل از راه مسالمت آميز حل وفصل گردد.

تا هموطنان مسلمان ما فارغ از نگراني وتشويش متعهد به زندگي خويش ادامه دهند.

ائتلافی اداره دسیاسی اونظامی انحطاط په لور

ابومحمدصدیق

که د کابل ائتلافي اداري پيل له اوسني حالت سره پرتله کړو نو دا به جوته شي چي دا اداره په سياسي اونظامي دواړو ډګرونو کښي دانحطاط په لور روانه ده او له محتوم زوال سره لاس او ګريوان ښکاري روان حالات دابښي چي داستاد رباني ،مسعوداوسياف ديکه تازي اوانحصار طلبي له امله ددوي دائتلافي اداري پرخلاف د ټولو مخالفينو يوه ګډه جبهه جوړيدونکي ده که څه هم په دي وروستيو څو اونيو کښي دغې اداري په پولېسياسي ماتورونو لاس پوري کړي ترڅو وکولاي شي خپل مؤيدين زيات اودمخالفينو په صفونو کښي په درزاچوني سره دهغوي له يو ځاي کيدو څخه مخنيوي وکړي.

ديېلګي په توګه ائتلافي اداري جنبش ته (دجهاد له اعلان سره سره) د دوستي لاس وراوږد کر دمسکو په وساطت څو څو ځله د دوي داستازو تر منځ خبري اتري وشوي چي بالاخره داملاکري يي له کومي نتيجي پاي ته ورسيدي استاد رباني غوښتل چي ير ټمل بيا جنبش دخپلو ګرمو اوپستو وعدو په لومو کي راګيراودخپلومخالفينو پر خلاف يي استعمال کړي اودخپل قدرت د بقا په خاطر نور هم ګران هېواد د اور په لمبو کي وسوځوي خود پښتو ژبي ديومشهوره متل په اساس چي وايي :

(اوبه له ورخ تيري وي)

داستاد رباني ژمني او وعدي اوس دهغه دمخالفينو لپاره دورځه دتيرو شپو اوبو مثال لري ځکه چي دغې اداري خپل اعتبار له لاسه ورکړي هره وعده اوژمنه يي دمعمولي فرصت په لاسته راوړو سره ماته کړي ده اودسولي له هر دړانديز څخه يي دنظامي تکتيك په توګه کار اخستي همدااوس چي له يوي خوا يي له جنبش سره دسولي خبري رواني کړي وي له بلي خوا دولتي ځواکونو په فارياب کښي د جنبش پرپوستو عمليات پيل کړي اوهم په سالنګ کي دمسعودنظامي تحرکات دا ښيي چي دولت دغه سيمه له مخالفينو سره دجګړي ... ګر ..دلول غواړي دولت پراخې له جنبش ... وول ستونزه تلري بلکي له ځېلو ... سره په هرمحاذ کښي لاس او ګ... ښکاري د دولت کړتلاره دحزب اسلامي پرخلاف چي تل يي دسولي دهري پروسي ملاتړ کړي هم په دښمني ولاړه ده کله چي په دولت دمخالفينو فشار زيات شوي نو بيا يي حزب ته ددوستي لاس وراوږدکړي خود فشار له کميدو سره سم يي بيا له حزب سره د دښمني لار خپله کړي زمونږ هيوادوال ښه خبر دي کله چي دطالبانو په نامه تحريك رامنځته شو او په ډيري چټکي سره يي څو ولايتونه ترخپلي ولکي لاندي راوستل او بيا د کابل ښار تر دروازو ورسيدل نو په دولت هم سره لري تيه راغله او ددوستي هيئتونه يي يو پر بل پسي حزب ته راوليږل ترڅو له حزب سره په لاس يو کولو دطالبانو مخه ونيسي خو څه وخت چي دولت له طالبانو څخه دکابل ښار جنوبي سيمي او سنګرونه ونيول نو د دولت تيه هم وشکيده اوله حزب سره يي بياتريګني راواخستله دا ټول هغه مهم لاملونه دي چي ددولت باوريي دمخالفينو په منځ کي ختم کړي او هيڅ يو له مخالفينو څخه په دولت اودهغې په ژمنو وعدو او دسولې په وړانديزونو يې باورنشي کولاي چي دا کړنلاره خپله دهغې انحصار طلبي او يکه تازي ژبژنده ده چي دولت يي لري او په پراخې ځان په واك د پاتي کيدو خوبونه ويني او غواړي خپل مخالفين په هره بيه چي کيداي شي که هغه د زور زر يا تزويرلار ولي نه وي وځپي دغه وول کړنلاري او پاليسي ددولت ملاتړي کم او مخالفين يي يو پر بل پسي ورزيات کړل په دولت کښي له شاملو ګوندونو څخه اوس پراخې دسياف ګوند په داسي حال کښي پاتي دي چي دهغه دتنظيم داجرائيه شوراي غړي په بوه او استاد يي په بله روان دي استاد اوس هم ددولت دملاتړ ډيري په سينه وهي اودمسعود ټولو ناخوالو يي په تندي ګوتڅه قدري هم رانه وستله که څه هم داسي آوازي وي چي استاد سياف به هم دمولوي محمد نبي په څېر له دولت نه خپله لار بيله کړي خودرمي شپي داستاد سياف راډيويي وينا چي دکابل راډيو له څپو نه خپره شوه په دي تبليغاتوسړي اوبه توبي کړي استاد سياف دخپلي وينا به ترڅ کښي دکابل ائتلافي دولت يو اسلامي دولت وباله اود هغې په مخالفينو يي سختي نيوکي وکړي دغه بيانيه چي له دوستم سره ددولت د مذاکراتو له ناکامي وروسته خپره شوه په کښي د دوستم سخته غندنه شوي وه استاد سياف دخپلي وينا په بوه برخه کښي ووېل ددوستم په خپرمقسد ، قاتل اولوټ مار بل څوك کيداي شي ؟ ولي استاد سياف د دوو نکتو په باب چوپتيا غوره کړه اوڅه يي ونه ويل لومړي داچي دولت چي دي هم په کي دملادتبرحيثيت لري ولي له داسي مقسد او قاتل سره د افغانستان دشرمېدلي اوماتي خوړلي دښمن (روس) په وساطت دتفاهم اودوستي خبرو ته په يوه ميز کښيناسته ؟ دوهمه خبره داچي استاد په اسلامي دولت !! کي دآصف دلاور، بابه جان ،نبي عظيمي ... سرسختو کمونستانو دموجوديت په باب چي اوس يي اسلامي دولتاپه پښو درولي څو په يووخت کي استاد دداسي کسانو موجوديت په اسلامي دولت کښي په يو سطل پاکو اوبو کښي ديوه څاڅکي ګندګي سره تشبيه کاوه هيڅ ونه ويل په هر حال د استاد د خبرو بله مهمه موضوع دطالبانو وه استاد دطالبانود غورځنګ په باب څرګنده کړه څوك چي دطالبانو مرسته اوملاتړ کوي اويا ورته فتوي ورکوي هغوي ټول په دي قتلونو کښي شريك دي کيداي شي له استاد نه دطالبانو د غورځنګ په باب هغه څرګندوني چي ددي غورځنګ په لومړيو شپو ورځوکښي يي کړي وي له ياده وتلي وي له وحدت ورځپاڼي سره ديومخابروي تماس په ترڅ کښي استاد ويلي وو چي طالبان په ښه نيت راپاڅېدلي ځکه يي خداي (ج) مل دي .

او په دومره چټکي سره پرمختګ کوي استاد رباني خو تردي هم يوګام پرمخ ولاړ او د خبري رسنيو له لاري يي ټولو هيوادوالو ته اعلان وکړ چي د طالبانو له تحريك سره له پيله تر اوسه زمونږ ملاتړ ملګري و اومونږ ورسره ډيري مرستي کړي دي هنداراز احمدشاه مسعود په دي لړ کښي تر ميدان ښاره دوړتلو زحمت هم وګاله او د طالبانو له غورځنګ نه يي ځېل ملاتړ وښود موږ اوس له استاد سياف او اسلامي دولت ؟ له واکمنانو نه دا پوښتنه کوو چي که د طالبانو د غورځنګ څخه ،په ملاتړ کولو سره څوك په قتلونو اوجرمونو کي شريك کيداي شي نو تر بل هر چا د مخه تاسي شريك ياستي ځکه تاسي ددي غورځنګ لومړني ملاتړي اومؤيدين ياستي اياتاسي هغه خلك نه يي چي کله حزب اسلامي له څهارآسياب نه عقب نشيني کوله دلاري په اوږدو کي يي تاسي دطالبانو دملاتړ له امله په کاروانونو ډزونه واورول تاسي دپښتو ژبي ددي شعر پوره مصداق ياستي چي وايي :

« کوهي مه کينه دبل سري په لارکښي
چيرته ستابه هم دکوهي په غاړه لارشي»

تاسي دافغانستان دربښتيني اسلامي خوځښت دورکاوي خوبونه ليدل خو اوس چي له کومو ستونزو سره لاس اوګريوان ياستي دامو د خپلو نيتونو نيتجه ده موږ هيله من يو چي دتاريخ په دي حساس پړاو کښي دهيواد اوافغانستان د مظلوم ولس په درد دردمن ټول وګړي او جهادي تنظيمونه به په پورمرصوص صف کي سره راټول او په يو مرګوني ګوزار سره به زمونږ کړيدلي ولس ددي ناپاکي اداري له منګولو څخه وژغورل شي دهيواد سياسي اونظامي حالاتو له څېړني څخه جوتيږي چي دکابل ائتلافي اداره اوس په دي دواړو دګرونو کي پراخې پاتي ده اودهري ورځې په تيريدو سره دانحطاط په لورروانه ده که څه هم دحزب اسلامي تکتيکي په شاتګ اودکابل شاوخوادځينو ځايونو نيولو هغوي ډيرمغرور اواميدواره کړي وو خو په باميانو اوميدان ښار کښي وروستيو جګړو او دمخالفينوپرمختګ ددولت جنګي ماشين له پښو غورځولي اوددولت له ټولو مخالفينو څخه ديوي ګډي جبهي تش جوړيدل به هم ورته مرګوني ګوزار وي.

ضرورت مفاهمت وهمآهنگي بین جناح هاي مخالف ادارهٔ ائتلافي کابل

محمد رحيم

درين امر همه احزاب ونيروهاي مخالف اداره کابل با هم توافق دارند که تا زمانيکه اداره کابل برسرقدرت باشد استقرار صلح وامنيت سرتاسري درکشوروواقامه حکومت اسلامي منتخب ومنبعث از اراده مردم درافغانستان امکان پذيرنيست وبه اين حقيقت هم همگان باور دارند که سران اداره کابل به هيچ صورت بگونه صلح آميز وآبرومندانه از طريق تفاهم ومذاکره آماده انتقال قدرت به يك مرجع موقت بيطرف ومورد تائيد وتوافق همه جناح هاي مطرح ودرگير درقضيه کشور مانيست . پس درشرايطي که اداره کابل جز نظاميگري وبدست آوردن پيروزي بر حريفان خويش آنهم ازراه جنگ به چيزي ديگري باور ندارند آيا ميتوان از تلاش هاي سياسي وديپلوماتيك که اخيراً براه افتيده وياخواهد افتاد بادرنظرداشت جنگ افروزي هاي اخير اداره کابل درميدان شهر وساير ولايات شمالي وجنوب غربي کشور اميدي داشت ؟ با درنظرداشت تجارب گذشته برمصداق ضرب المثل : (آزموده را آزمودن خطاست .) نميتوان ازتلاش هاي سياسي که جهت حل بحران افغانستان درآينده درهر قالب وبه هرسطحي براه افتد انتظارنتايج مثبت راداشت زيراموقف وموضع گيري جنگ طلبانه سران اداره نام نهاد کابل در طول سه سال گذشته براين باور مردم ومحافل سياسي درداخل کشور خط بطلان کشيده چه نه تنها تلاش هاي صلح جويانه ميانجيگران داخلي به نتايج مثبت وقناعت بخشي نيانجاميد بلکه تلاش هاي کشور هاي همسايه درسطح منطقوي و پروسه صلح سازمان ملل متحد در سطح بين المللي نيز درنتيجه عظمت طلبي ، انحصار طلبي ، وخوي وخصلت جنگ طلبانه سران کابل غير مؤثر وبدون نتيجه ثابت شد.

گرچه بار ديگر محمود مستيري نماينده خاص سازمان ملل متحد اظهار آماده گي کرده است که قصد دارد غرض پيگيري تلاش هاي قبلي اش جهت استقرار صلح وامنيت وانتقال قدرت از اداره رباني به يك اداره مؤقت وقابل قبول برا به همه جوانب درگير بار ديگر به منطقه سفرنمايد ولي ناگفته پيداست که ماموريت بعدي وي نيز به انجامي دچار خواهد شد که تلاش هاي قبلي او به آن دچار شده بود . زيرا چار دورماموريت ناميرده درنتيجه موضعگيري هاي نادرست وغيرمعقول سران اداره کابل به شکست کامل مواجه شد ومستيري مأيوس وشکست خورده با صدوراعلاميه اي ظاهراً شديد اللحن ولي غيرعملي ودر قالب الفاظ وکلمات ،منطقه راترك گفت ولي تا حال درجهت تحقق گفتارش مبني بر اينکه اداره کابل را به انزواي کامل سياسي درسطح بين المللي دچار خواهد ساخت کوچکترين اقدامي نکرده است اما اين بار مطلب تازه ومهمي که به ارتباط فعاليت هاي ديپلوماتيك نماينده سازمان ملل گاه وبيگاه برسر زبان ها زمزمه ميگردد مسئله تشکيل اردويي است که سازمان ملل ميخواهد غرض تامين امنيت واستقرار صلح درافغانستان همچو اردو ويا ارتش را تشکيل دهد ، شايد سازمان ملل از يادآوري اين مطلب صرف جهت اعمال فشار بالاي اداره کابل استفاده نمايد وبه اين ترتيب بخواهد که اداره رباني به ميکانيزم پيشنهاد شده ازجانب سازمان ملل جهت حل معضله افغانستان جواب مثبت دهد و در عين زمان ماموريت بعدي ميستيري را پرارزش واميدوارکننده جلوه دهد .

اداره کابل قبلاً هم به هشدار هاي غير عملي ولفظي سازمان ملل و تهديدات خشك وخيالي آن سازمان چندان اعتنايي نداشته ودر آينده هم نخواهد داشت و اگر آن سازمان واقعاً قصد تشکيل همچوارتش رادر افغانستان داشته باشد اين کار سازمان ملل بمثابه مداخله درامور داخلي افغانستان بوده که حق ندارد به چنين اقدامي دست بزند چه مسئله تشکيل اردو ويا ارتش حق مسلم خود افغان ها وبه نماينده گي از افغانها حق حکومت اسلامي منتخب ومنبعث از اراده مردم درافغانستان است . افغان هاي مجاهد ومومن به حکومت هاي تحميلي ودست نشانده سراطاعت پائين نکرده اند ونخواهند کرد چه رسد به اينکه اردوي ساخته دست بيگانگان راپبذيرند ، زيرا اردو ويا ارتش دريك کشور ضامن حفظ استقلال ، تماميت ارضي ورفع وطرد هر نوع تجاوز ومداخله خارجي است اگر همچو ارتش درافغانستان ازجانب بيگانگان تشکيل مي شود طبعاً که آن ارتش پيرو دستور بيگانگان بوده به هيچ وجه حافظ استقلال وتماميت ارضي وهويت وحيثيت اسلامي افغانستان نبوده مطلقاً نيروي ضربتي بيگانگان بوده ودر جهت حفظ ودفاع از رژيم هاي دست نشانده صرف مساعي خواهد کرد به اين ترتيب دورقاي سفر بعدي مستيري نيزناکام به نظرمي رسد.

همچنان در سلسله اين فعاليت هاي سياسي بخاطر حل سياسي مسئله افغانستان رئيس استخبارات سعودي شهزاده ترکي الفيصل و جانسي مونجو سفيرامريکادر اسلام آباد نيز متحرك شده اند وبابعضي از سران جناح هاي درگير در بحران افغانستان ديدو اديد هاي داشته اند ولي متوازي با تلاشهاي ايشان در نتيجه اتخاذ سياست جنگ طلبانه از جانب اداره کابل آتش جنگ دراطراف پايتخت وساير ولايات افغانستان مشتعل شده است . يك سلسله فعاليت هاي ديگري بخاطر اتحاد کامل بين نيروهاي مخالف اداره کابل درصحنه سياسي ونظامي در جريان است که ان شا الله نتايج مثبتي از آن مرتب خواهد شد چه ضرورت زمان ونياز مردم افغانستان وحفاظت ازآرمان شهدا و تحقق بخشيدن به اهداف انقلاب اسلامي به ماحکم ميکند که جهت بيرون رفت ازوضع فعلي ودادن پاسخ مناسب ودندان شکن به سران تجوج وانحصار طلب اداره کابل بايد همه نيروهاي مخالف اداره کابل در اسرع وقت مواضع سياسي ونظامي شان را در برابر اداره کابل همآهنگ ومنظم سازند. تاباشد که باوارد ساختن يك ضربه کاري ومؤثر درميدان جنگ سران خيره سر وانحصار طلب اداره کابل را درعرصه سياسي مجبور به اين بسازيم تا آبرومندانه وازطرق مسالمت آميز دست از جنگ وخون ريزي بردارند وآماده انتقال قدرت به يك مرجع موقت ، بيطرف وقابل قبول براي همه جناح ها شوند.

بادرنظرداشت تجارب تلخ گذشته به ارتباط فعاليت هاي سياسي جهت خاتمه بحران فعلي درافغانستان چه به سطح ملي ، منطقوي وبين المللي ونقض تعهدات وپيمان ها ازجانب اداره کابل اميدواري حل بحران افغانستان ازطرق سياسي کاملاً بعيد به نظر ميرسد ، زيرا کمك هاي بي حد وحصر کشور هاي روسيه وهند وبرخي ازکشور هاي ديگر سران تجوج وخيره سر اداره کابل را چنان مست ومغرور ساخته است که به هيچ وجه اماده انتقال قدرت نيستند بلکه مزيد برآن ميکوشند تا به هر ترتيب که باشد رقبا وحريفان خويش را درصحنه سياسي ونظامي ضربه زده وخود بر اريکه قدرت براي هميش تکيه بزنند.

براي نجات کشور ومردم مسلمان ازسلطه اداره ديکتاتورانه رباني مسعود وسياف لازم است تا همه نيروهاي مخالف دريك تشکل سياسي ونظامي واحد گرد هم آمده ضربه قاطع وخوردکننده اي بر اداره کابل وارد نمايند تا بيشتر از اين نه مردم مادر رنج به سربرند ، نه کشورما مزيد بر اين ويران شود ونه هم مداخلات رنگارنگ بيگانگان ابعاد وسيع تري کسب کند .

روس اوهند په دې لته کې دي چې

اوس ډېر زياته کمزوري ويلله او وي ويل چي اوس د هغې پرخلاف مخالفتونه زيات شوي او د کابل په څوکيلومتري پاندي حکومت کول ددې معني نه لري چي ګواکي کابل اداره په ټول افغانستان واکمن دي .

وروو سعيد زياته کړه چي روس او هند په دي کوشش کي دي دي چي افغانستان دتجزيي سره مخ کړي او دقومونو اوقبيلو ترمنځ اختلافات راولاړ کړي ده وويل چي په کابل کي دتاجکستان دکمونست مشررحمانوف اودهغوي دمخالفينو ترمنځ خبري هم دسغر تاجکستان دجوړولو پاره شوي وي .

او هندبيا په دي خاطر دافغانستان د تجزيي کوشش کوي ترڅو د تقسيم په صورت کي د پاکستان د پښتنو په سيمو کي حالات خراب کړي . ده دافغانستان د جهادي مشرانو څخه وغوښتل چي ديوه مؤقت حکومت په جوړيدو ،په خپلومينځونو کي توافق وکړي اوکه چيري دهيواد سلامتيانه کوم خطرپيښ شونو مسؤليت به يي زمونږ د مشرانو په غاړه وي.

وروو قريب الرحمن په کابل کي دپاکستانيانو په بنديانو لوړېرخفګان ښکاره کړ او وي ويل چي دجهاد په کلونو کي دپاکستان له خواافغان ولس سره هرډول مرستي شوي اوهيڅ پرافغان ته کومه ستونزه نه ده‌ور پيښ شوي خودکابل اداري لخوا دپاکستاني وروونو نيول اوتعذيبول دافسوس خبره ده او متاسفانه چي دکابل اداره نه غواړي دپاکستان اوافغانستان دولسونو ترمينځ دوستي دوام وکړي . خو پاکستاني ولس دي خبروي چي دکابل اداره دافغانستان دخلکو استازي توب نشي کولي.

اختلافات سياسي ...

اعلاي ايالت آرياناحاضرنيست سهميه آب دهلي جديد رابدهد.

ايالت آريانا يك ذخيره مهم آب را در اختيار دارد که مقدار آب مورد ضرورت دهلي نيز از همان ذخيره فراهم ميشود . مقامات ايالت آريانا روي موضوعات سياسي جريان آب به دهلي راقطع نموده، که اين امر موجب قلت آب وبروز بيماري هاي گوناگون درين شهر مرکزي هند گرديده است .

درخبر آمده است که نفوس شهر دهلي حدود نه مليون نفرميباشد که کمبودي آب زيان هاي ديگري راهم در برخواهد داشت .

څوك چي دسولې له پاره دقرباني عزم نه لري ...

یادونه

دتېري جمعي په ورځ دحزب اسلامي مجاهد امیر وروړ حکمتیار دشینوارو لویې ولسوالي ته تشریف یوړ، دسیمي قومي مشرانو ،علماو اوسپین ږیرو ووروړ حکمتیار تودهرکلي وکړ او دجمعي لمونځ یې دهغه په امامت سره اداکړ . ووروړ حکمتیار دجمعي دلمانځه په خطبه کي دهیواد په روانو حالاتو رڼا واچوله چي دادي دهغي دوینا بشپړ متن خپروو.

وروړ حکمتیار له حمد او ثنا وروسته وویل !
ترجمه :

چیرته دکلیو اوسیدونکو خلکو ایمان راوړي اوتقوي لاریي غوره کړیده نو دآسمان اوځمکي دبرکت دروازي مو دهغوي پرمخ خلاصي کړي الله پاك فرمایي :

څوك چي دخداي نه وویریږي د تقوي لار اختیارکړي له کړاوونو نه به دوتلو لار خداي ورته برابره کړي او له دغسي لار نه به ورته رزق ورکړي چي ګمان یې هم نه کیږي .

څوك چي له خداي نه وویریږي ، ګران اوسخت کارونه به ورته آسان کړي - مشکل کشا خداي دي دسختو کارونو آسانوونکي خداي دي - د تقوي په نتیجه کي ستاسو ستر ستر کارونه چي نور دهغه د ترسره کولو ګمان او تصور نشي کولي الله (ج) ته ډیر آسانه دي - کوم قوم چي په کړاوونو ، داخلي جګړو مصیبتونو کي قحطي ، لوږي او بیماري اخته دي هغه دي پدي پوه شي چي له دي حالت نه دوتلو صرف یوه لاره ده. او هغه دا چي خداي (ج) ته رجوع وکړي دخداي دین ته رجوع وکړي ——

له کومي نه چي په لري کیدوکي تاسي کرکه نفرت دښمني اوجګړي لیدلي ځکه دایمان په نتیجه کي امن او امان وي ، ایمان په موږ کي دخداي مینه ،الفت او محبت را پیدا کوي ایثار او خودګذري را پیدا کوي په کوم قوم کي چي ایمان وي هغه له یو بل سره مینه محبت ، الفت او دیو بل په مقابل کي ایثار اوخودګذري لري او په کوم قوم کي چي دایمان ځاي دهوا او هوس شیطان ونیو هلته بیا په زړونو کي کرکه ، نفاق او دښمني وي .

زموږ اوتاسي دمشکلاتو دحل لاره هم فقط داده چي دخداي دین ته رجوع وکړو ، په موږ باندي روسان مسلط شول دروسانو مزدوران راغلل اقتدار یې په لاس کي ونیو او مرګ ژوبلي موولیدي سپین ږیري ،علما ، مشران او بادیانته خلك مو په بېرحمانه توګه په قتل ورسیدل ورك اولادرکه شول موږ ،ولیدل چي زموږ علما ،مشرانو اوولس ټولو دخداي په لار کي ملاوتړله ، وسله یې واخیستله ، جهاد یې وکړ ، او پدغه لاره مو دتلو لپاره الله (ج) ځان ته کافي وګاڼه .

دخداي ددین قایمولو لپاره مو قرباني ته ځان چمتو کړ هیچا ګمان نه کاوه چي زموږ په شان یوقوم به قیام وکړي هغه هم دهسي طاقت په مقابل کي چي دهغه دمقابلي جرئت چا په ځان کي نه درلود امریکا دهغه مخي ته نشواي ودریدي امریکا به ویتنام کي ماتي خوړلي وه. ماسکو په ټولي دنیا دحکومت کولو خوب لیده ، دافغانستان قضیه یې ختمه شوي ګڼله برژنیف په همغه اولو شپو ورځوکي ویلي ته تللي ؤ هلته یې اعلان وکړ چي دري میاشتي پس به دافغانستان قضیه حل وي نه به جنګ او جګړي وي اونه به څوك مقاومت کوي . چا هم داتصور نشو کولي چي د روس مخي ته به افغان ولس ودریږي . داپرسترګکار ؤ هیچا یې تصور نشو کولي - خو الله پاك افغانانو ته ډیر آسانه کړ او دا قوم په شور او ځوږ سره سنګرونو ته ولاړ - په ډیرفخر یې قرباني ته ځانونه تیارول ، په شهادت یې فخر کاوه او دخپل وروړ په زخمي کیدو به یې په ځاي ددي چي غمجن شي دالله حمد اوشکرادا کاوه .

ددغو قربانیو په نتیجه کي روسانو شکست وخوړ ، له افغانستان څخه ووتل ،افغانستان آزاد اودروسانو حکومت ختم شو.

او الله (ج) ددي ذمه واردي چي په افغانستان کي اسلامي حکومت قایم کړي دا به خامخا کیږي خو ځینو متاسفانه عجله وکړه په آخري شپو ورځوکي چي روس وتلي ؤ کمونستان هم نور دپاتي کیدو نه وو روس او امریکا غوښتل چي دمجاهدینو اوکمونستانو ګډ حکومت دي جوړشي . موږ ته یو په بل پسي دهغوي جرګي راتللي ویل به یې چي ستاسو لوي قوت دي ، ملت له تاسو سره دي او آینده لري د خپل قوم پدي ژامنو باندي رحم وکړي اوله کمونستانو سره یوه ګډه اداره جوړه کړي چي لانجه حل شي .

موږ ورته وویل چي خداي ته به زموږ ځواب څه وي چي دخپل ولس قاتلان چي لاسونه یې زموږ دملت په وینو سره دي په حکومت کي له ځان سره شریك کړو او ورسره ائتلافي حکومت جوړ کړو.

موږ ویل چي ۱٤ کاله نور هم په غرو کي جنګیدي او پاتي کیدي شو خو له کمونستانو سره ګډه اداره نشو جوړولي . ځینومتاسفانه عجله وکړه غوښتل یې چي له بهرنیو طاقتونو سره دتوافق له لاري قدرت ته ځان ورسوي .

اودکمونستانو په اوږو اوپه ټانکونو سپاره کابل ته ننوتل او له هغوي سره یې ائتلافي ګډه اداره جوړه کړه کابل ته ننوتل په داسي وخت کي چي قدرت ټول دکمونستانو په لاس کي ؤ دنجیب د وخت پوځ په کابل مسلط ؤ اقتدار کاملاً دهغوي په واك کي ؤ. اودهغوي مقصد هم همدا و چي دمجاهدینو ترمنځ جګړه پیل شي . اودکمونستو جنرالانو دقوماندي لاندي په کابل کي دمجاهدینو په خلاف جګړه پیل کړي چي متاسفانه همداسي وشول او دا جګړه تر اوسه روانه ده لکه چي مخکي روس او دهغو ملګرو هیوادونو دکابل رژیم مرسته کوله اوس هم همغه روسان همغه هندوان دي چي دکابل دموجوده اداري مرسته کوي . پیسي ورته چاپوي وسلي ورکوي په سیاسي لحاظ یې ملاتړ کوي طیاري یې ترمیم کوي ،ټانګونه یې ترمیموي اوهرراز مرستي یې کوي.

او اوس روسان ددي کوشش کوي چي فلان اوفلان کس دکابل اداري سره نژدي کړي اودهغوي ترمنځ منځګړیتوب کوي په مسکو کي مذاکرات دهغوي په منځګړیتوب ترسره کیږي په ازبکستان کي دهغوي په منځګړیتوب کیږي اوصریحاً اعلان کوي چي اوس موږ دمجاهدینو ترمنځ منځګړیتوب کوو.

دچا په لاس چي یو نیم ملیون افغانان په قتل رسیدلي زموږ ټول ملك وران شوي اوټانګونه یې زموږ دملت په هډوکوتیرشوي اوس هغه اعلان کوي چي موږ دمجاهدینو ترمنځ منځګړیتوب کوو او ددوي ترمنځ سوله او روغه جوړه کوو.

روس اوس دکابل اداري لپاره پیسي چاپوي وجه یې داده چي هغوي دانشي زغملي چي په افغانستان کي دي اسلامي حکومت رامنځ ته شي.

موږ اوتاسو له الله (ج) سره په همدي ژمنه کړي ، له هغه سره موږعده کړي چي داسلامي حکومت دقایمولو لپاره به خپل سر اوخپلي وینې دهغه په لاره کي قربانوو داټوله قرباني دهمدي لپاره وه چي اقتدار اسلام ته وسپارل شي هدف مو دا ؤ وچي دخداي دین قایم شي دالله ددین حدود نافذ شي اواسلام حاکم شي دخداي ددین کلمه اوچته شي .

تاسو چي له دغو سردرو نه جهاد شروع کاوه خو په همدي نیت ؤ اودهمدي امر لپاره ستاسو وینې تویدلي کورونه مو ورانیدل هجرت مو کاوه وروڼه مو په شهادت رسیدل هدف مو دا ؤ چي په افغانستان کي واقعاً سل په سلو کي یو سوچه اسلامي حکومت قایم شي . هغه ارمان لاندي ترسره شوي اسلامي حکومت لاندي قایم شوي اسلامي حکومت چي قایم شي بیا به امن وي .عدالت به وي بیا به بیت المال کي څوك خیانت نشي کولي بیا به دځمکي اوآسمان دبرکت دروازي خداي پاك ددي قوم په مخ پرانیزي او بیا به زموږ ستر ستر اوګران ګران کارونه هم خداي پاك راته آسان کړي.

که څوك دا هیله لري چي دحزب اسلامي دځوتنو ځان پلوریو په اغوا کولو به حزب اسلامي له پښو پرېباسي ،ستره اشتباه کوي

ورونو ! هغه ارمان لا نه دي پوره شوي زموږ وظیفه لاسرته رسیدلي نه ده ، زموږ جهاد لاپوره شوي نه دي - موږ چي کوم منزل اوسفر پیل کړي ؤ دهغي ساحل ته نه یو رسیدلي اوکښتي مو لا ساحل ته رسیدلي نه ده سرمنزل مو اسلامي حکومت دي نو پدي خاطر موږوایو چي داجهاد ختم شوي نه دي جهاد روان دي.

ورونو موږ په خپلي ژمني له الله سره ترسره کوو په خپل تعهد به له خداي سره وفا کوو ترڅو چي اسلامي حکومت قایم شوي نه وي که موږ آرام کښینو داآرام کیناستل په موږ حرام دي .

داسي یې وګڼي لکه تاسو چي لمونځ ترك کړي دي دلري ته دلمانځه آذان وشي او تاسي لمانځه ته رانه شي . شهیدان همداتالري چي زموږ ارمان پوره شوي نه دي ، او له الله سره چي دي تعهد کړي ؤ هغه تعهد نذي ترسره شوي داارمان به ترسره کوو پردي تعهد به وفا کوو او پدي هم باور ولري چي دالله پاك وعدي ریښتني دي اوخپلي وعدي پوره کوي.

که تا له الله (ج) سره یې کړو وعدو وفا وکړه الله به هم حتماً خپلي وعدي ترسره کوي.

ځیني پدي ګمان دي اووایي چي دنجیب داستعفي نه بعد دمجاهدینو ترمنځ داقتدار په سر جګړه پیل شوه .

ورونو زموږ په خلاف دا تبلیغات کیدل حال داچي موږ ویل موږ د اقتدار لپاره نه یو جنګیدلي - دلږي ځل لپاره چي په افغانستان کي موږ داسلام جنډه اوچته کړي پراخې ځوانان وو او داسلام په لاره کي دجهاد غږ موږ اوچت کړي ، بندي خانو ته موږ تللي یو ، دهجرت لار موږ غوره کړي ، په اعدام موږ محکوم شوي یو . زموږ هدف فقط داو چي په افغانستان کي اسلامي حکومت قایم شي چي هر چا ته اقتدار سپارل کیږي موږ یې منو چي په ما انزالله حکم وکړي له خداي نه ویریږي او په قوم ترحم ولري موږ لدي نه اظهار د برائت کوو چي زموږ جنګ دي داقتدار اوقدرت لپاره وي - غربي اژانسونو زموږ پرخلاف همدا تبلیغات کړل ځینو داخبري منلي دي.

او پدي یې باور کړي ؤ خو اوس دادي ګوري چي موږ چهار آسیاب پریښي اودجنګ له لړي خط نه په شاشوي یو خو جګړه روانه ده ټوټه ووریږي کوروته ورانیږي وینې تویږي او ددي جګړي لمن نوره هم خوره شوي . نن دکابل داتلافي اداري اودطالبانو ترمنځ جګړه وه په فراه اوهرات کي هم او په میدان لوګر اودکابل شا او خوا کي هم ټهرن خورادي طالبان دمنبر په سر وایي چي درباني پرخلاف جهاد فرض دي څوك چي پدي جهاد کي مړکیږي شهید دي څوك چي ژخمي کیږي اجریې په خداي دي دا جهاد واجب دي دا نظام غیر اسلامي دي باید نسکورشي او ددي په ځاي اسلامي نظام قایم شي اوس په پیښور کي یوبه بل پسي فتوا ګاني صادروي همغه جګړه ده رباني اوس هم دي ته تیار نه دي چي داقتدار نه لاس واخلي اواستعفي وکړي .

اودملت دي غوښتني ته تسلیم شي چي پریږدي افغان ولس دخپلي خوښي حکومت جوړ کړي .

دا خبله ښیي چي دجګړي عوامل څه نوردي داجګړه داقتدار لپاره نه وه.

ورونو :

دنجیب حکومت له ختمیدو نه دمخه بهرني طاقتونه په ځیلو منځګړي پدي خبره سلا شول چي په کابل کي باید یوائتلافي اداره جوړه شي - ګډه اداره دمجاهدینو اوکمونستان جوړه شي . ،اقتدار دکمونستانو لاس کي وي ټول کمونستان باید په خپلو چوکیو او مقامونو کي پاتي وي او دپوځ قطعات چي په هغه کي دنجیب دوخت کمونست جنرالان دهغو قوماندانان وو داباید پاتي شي دکابل امنیت باید دکمونستانو لاس کي وي مجاهدین باید دغه راز یو حرکت کي داخل شي .

دلږي ځل لپاره ددي خبري مطالبه له موږ نه وشوه ماته دګورباچف خاص مشاورراغلي ، یو په بل پسي له مسکو نه هیئتونه راغلي او له ما نه یې دهمدي غوښتنه کړي چي له نجیب سره خبرو اترو ته کیښنو اوګډو اداره جوړه کړو. ما ته نه یوازي دمسکو نه ګڼ شمیر هیئتونه دګورباچف دخاص مشاور په شمول له همدي پیغام سره راغلي بلکي دمختلفو ملکونو له لاري یې ماته همدا پیغام رالیږلي دپاکستان له لاري دسعودي دحکومت له لاري دایران ، عراق لیبیا یاسرعرفات دګڼ شمیردغسي ملکونو په ذریعه ماته هغوي همداپیغام را کاوه اوحتي ویلي یې دي چي ته ځوان یې اینده لري ملت تاسره دي یومنظم قوي حزب لري اوته دخپل ملت پدي بچیانو چي کمونستان یې مراد ؤ پدي ترحم وکړه دا په خپله غیږکي قبول کړه دوي غلطي کړي ورته عفو وکړه ماویل چي که خبره دعفوي وي نو تیاریم او که خبره اقتدار کي دشرکت وي زه به خداي ته څه ځواب ورکوم - خپلو شهداو ته به څه ځواب وایم زما قوم ته به زما ځواب څه وي چي زه دخپل ولس له قاتلانو سره ګډه اداره جوړه کړم په یوه کابینه او یو حکومت کي له هغوي سره شریك شم هیڅکله زه دي ته تیار نه یم .

ماته لوله منفي ځواب ورکړي ماته یاسر عرفات د بي نظیر بوټو په وړاندي همدا پیغام راوړي چي د بي نظیر بوټو دکابیني ګڼ شمیرغړي هم ناست وو اوماته یې ویل چي ترڅو تاسره دي داجهاد تا شروع کړي کمونستان آینده نلري خو دمسئلي دحل لپاره دوي په خپله غیږکي قبول کړه او په دوي ترحم وکړي پدي ترتیب جګړه پاي ته رسیږي خو موږ ټولو ته کلك منفي ځواب ویلي دي .

همدا خلك نوروته ولاړل متاسفانه هغوي همدا کار ورسره ومنلواوله کمونستانو سره یې ګډه اداره جوړه کړه په جبل سراج کي معاهده وشوه په چاریکارکي خبري اتري وشوي .

مزارشریف ، ماسکو کي ، استاد رباني په ټپو مسکو ته ولاړ هلته یې همدا معاهده وکړه - مسعود له کمونستان سره په جبل سراج کي تاسو معاهده پدي وشوه چي ګډه اداره جوړه کړي .

روسانو څو شرطونه درلودل اول شرط یې داو چي دپوځ داافسرانو تربیت به دسابق په شان په ماسکو کي کیږي دافغانستان دپوځ وسله به روسي وي دبل ملك سره به دوسلي قرار داد نه کیږي دافغانستان پیسي به ماسکو کي چاپیږي .

کمونستان به خپلو ټولو چوکیواومنصبونو کي پاتي کیږي اوهیڅوك به له خپل پست اوچوکي نه څخه نه لري کیږي مخصوصاً په پوځ کي) دمسلمانو محکومو ریاستونو په داخلي امورکي به مداخلت نه کیږي -ازبکستان تاجکستان ترکمنستان په امورکي به مداخلت نه کیږي

مجاهدینو اوخلکو ته به یې پناه اووسله نه ورکول کیږي چي د روس په خلاف بغاوت وکړي اودافغانستان او اتحاد جماهیر شوروي پخوانې قرار دادونه به محترم ګڼل کیږي .

او د روس دوستانو به دوستان اودښمنان به خپل دښمنان ګڼي دپاکستان په ځاي به دهند سره دوستي کوي . دا دروسانو مهم شرایط وو چي موږ ته یې هم ویلي دي چي موږ ورسره نه دي منلي - موږ ورته ویلي چي ددي مطلب غلامي ده .

او که موږ غلامي منلي نو دایو نیم میلیون شهیدان مو ولي ورکړل اوهغه وخت به مو داغلامي منلي وه.

خو هغوي دا شرایط ومنل له کمونستانو سره یې ګډه اداره جوړه کړه دهغوي په ټانکو سپاره کابل ته ننوتل فیصله یې کړي وه چي اول به دحزب اسلامي مقابله کوو چي حزب اسلامي موږټکو بیا د نورو کار آسان دي .

بیاداسي څوك نشته ،چي زموږ‌مخي ته ودرېږي او له حزب اسلامي سره به هم داسلامي حکومت ترنامه لاندي جنګیږو دا به نه پرېږدو چه کابل ته داخل شي .

او که حزب اسلامي ډېر مقاومت وکړي دري میاشتي وروسته بیا ختمیږي بیا نو څوك نشته چي زموږ مخه ونیسي.

متاسفانه په هغه وخت کي زموږ همسایه ملکونو هم ددي خبري سره موافقه وکړه .

پاکستان - هند -سعودي امریکا روس دي ټولو ، ددي خبري ملاتړ وکړ چي دکمونستانو سره دي ګډه اداره جوړه شي .

خو دالله په فضل څوك ندي توانیدلي چي زموږ مور چل ونیسي بلکي موږ به ورځ په ورځ پرمخ تللو.

اودکمونستانو هم منصوبه همدا وه چي حزب اسلامي ختم کړي بیا به نو دتاجکستان په شان بیرته اقتدار دکمونستانو په لاس کي شي اوغوښتل یې چي یو ځل کمونستان اومجاهدین .

په یوه اجتماعي کابینه میز اوچوکي سره کیني حساسیت ختم شي په قوم کي دمجاهدینو اعتبار له منځه لاړشي وروسته بیا دکمونستانو پرخلاف دمجاهدینو خبره قوموته مني نوبیا به کمونستان دتل لپاره په کابل باندي مسلط پاتي شي .

خوکارونه اوفیصلي خداي کوي دچا ختمیدو او بقا فیصله خداي کوي . دري میاشتي نه بلکه دري کاله موږ مقاومت وکړ زموږ په خلاف لویي لویي جګړي وشوي ټولي ټوپ ، ټوپ وسلي زموږ پر خلاف استعمال شوي .

په داسي حال کي چي دکابل اداره په ختمیدو وه دځنکدن په حال کي وه نور د دپاتي کیدو نه وه .

اومجبوره وه چي داقتدار نه لاس واخلي پدغه جلال آباد کي خبري اتري پیل شوي وي او په یو موقت حکومت هم توافق شوي ؤ داعلان لپاره هم خبره تیاره شوي وه چي ناڅاپي دکندهار له خوا نه یوڅوك حرکت دطالبانو په نامه پیل شو.

باوروکړي چي که دا حرکت نه واي پیل شوي نو په همغه میاشت کي به دکابل مسئله حل وه یوموقت حکومت ته به اقتدار منتقل شوي و جګړه به پاي ته رسیدلي وه بیا به دمؤقت حکومت په جریان کي انتخابات ترسره کیدل دازموږ شرط و مقابل طرف دي ته مجبور شوي و ځکه چي موږ په څو ورځوکي دمسکو غونډونه چي دیره ستراتیژیکه غونډی وه ونیوله او په پروان کي جګړي پیل شوي وي .

په شکردره کي جګړه ، پیل شوي وه او دداخلي بغاوتونو سره مخامخ و موږ ته یې خواست کولو جرګي یې راوستلي هر چا ته یې لاس لمن او ردوله ننګرهار ته یې هیئت رالیږلي ؤ او له همدي پیغام سره چي موږ ستاسو عبوري حکومت منو. نو موږ ته دي وټاکل شي چي موږ ورته اقتدار وسپارو .

جنوب غرب کي چي کوم حرکت پیل شو متاسفانه ددوي جګړه له حزب اسلامي سره وه

د رباني اداري دهغه ملاتړ کاوه د راډیو له لاري یې دهغه په نفع تبلیغات کول خپلو قوماندانانو ته یې ویل چي مرسته ورسره وکړي ځکه چي دا جګړه دهغوي په ګټو وه دوي په شمال کي جګړه دځان په ضرر ګڼله اوپه جنوب کي یې په ګټه وه . موږ ته دوه لاري وي یا به دطالبانو پر خلاف جنګیدو او له کابل نه به مو درباني په ګټه دفاع کوله او سبابه زموږ په خلاف ویل کیدل چي دادي حزب اسلامي داقتدار لپاره طالبان په قتل رسوي او دهغوي د سپینې جامي خیال یې هم ونکړ بابه مو همدا کړل چي دا لویه غلطي وه

اویا به موسنګرونه پرېښودل . زموږ مجاهدین دي ته تیار نه وو چي دهغه چا پرخلاف وجنګیږي چي جامه یې سپینه ده او وایي قرآن یې په جیب کي دي او طالب اوعالم نوم پري باندي وي موږ خپل سنګرونه پریښودل پکار خودا و چي طالبان راولاړشوي واي لکه چي اسلام اودالله قرآن حکم کړي راغلي واي د دواړو ترمنځ یې دروغي جهوږ کوشش کړي واي یا یې لیدلي واي کوم په حق دي اوکوم په ناحقه څوك چي بغاوت کوي لویي اوکبرکوي دهغه پر خلاف ودریدلي واي اوچي په حق دي دهغه ملاتړیي کړي واي که طالبانو واقعاً دا کار کړي واي په همغه او له هغه کي به جګړه ختمه وه دطالبانو به هم په قوم کي یو حیثیت او اعتبار و خلکویه نه ویل چي طالبان دقدرت لپاره جنګیږي . موږ به طالبانو ته ویلي وو چي اختیار ستاسو موږ به کابل کي اسلامي حکومت غواړو.

لاړشي رباني په اسلامي حکومت قانع کړي موږ پري قانع یو که یې نه منله له موږ سره به یې لاس یو کړي و باوروکړي یوه هفته دکابل اداري مقاومت نشواي کولاي له طالبانو پرته هم هغوي یوه هفته مقاومت نشواي کولاي چي موږ اوطالبان سره یو ځاي شوي واي نو هغوي به توانیدلي و چي په کابل کي مقاومت وکړي.

خوطالبانو لویه غلطي وکړه لویه تاریخي غلطي نن وروباندي اعتراف کوي چي دوي غلطي کړي نن چي په جګړه کي اخته شول

ګوري چي مخکي نشي تلي په مدار مدار په شا ځي له فراه اونیمروز نه په شاشول هلمند کي اوس ویریږي چي کندهار به ورته ونیسي

نوربیا

نوي ساینس دقرآن اوحدیث په رڼاکي

ژباړن : حبیب الله شریف

په قرآن حکیم کي د آسماني اجرامو بیان شوید چي تر اوسه یې ساینس د تصدیق کولو نه عاجز دي . الله (ج) فرمایلي دي دا کائنات ډیرپراخه دي چي د انسانانو د علم له دایري نه بهر دي ځکه چي د الله (ج) د خوښي څخه زیات نشي پوهیدي .

پخوانیو ساینس پوهانو پدي ډول د مادي قانون وضع کړ چي ماده نه له منځه ځي اونه منځته راځي لیکن دنوي څیړنو په رڼا کي پروفیسر فرنید هائیل وینا ده :

« زموږ وروستي پاي دادي چي ماده ازلي نده بلکه په هره لحظه کي دمادي پیدایښت جاري دي او یوازي همدا نظریه اطمینان بخښوونکي ده »

د الرحمن دسورت په ۲۹ ایت کي لوي خداي (ج) ددي داسي تصدیق کړیدي :

« هغه خداي (ج) هر وخت په یو کار مشغول وي »

د البقره دسورت په ۱۱۷آیت کي لارښوونه کیږي : « دځمکي او آسمانونو پیداکوونکي کله چي دکوم شي اراده وکړي پس دهغه کار په باب فرمایي . شه ، پس هغه وشي ، همدارنګه د شپو او ورځو پر له پسي بدلیدلو او د پیدایښت لپاره په بیا بیا پیداکولو اراده فرمایي »

د الزمر دسورت په ٥ او ٦ آیتونو کي پاك څښتن لارښوونه کوي : « ده (خداي) ځمکه اوآسمانونه په حکمت سره پیدا کړیدي شپه او ورځ یو پر بل کي رانغاړي .

د الجاثیه دسورت په ٥ ایت کي د شپي او ورځي دراتللو په اړوند فکراوغورکوونکو ته دعقل لرونکو خطاب شوید .

د حدید د سورت په ٦ آیت کي دلوي خداي (ج) لارښوونه ده : « ... هغه شپه په ورځ کي ننباسي او ورځ په شپه کي » په ورځ کي دشپي د داخلولو څخه مطلب داوږدي ورځ ده چي د ځمکي د موسم څخه وروسته ورځي لوئیږي او په شپه کي د ورځي دداخلولو نه مقصد د ژمي لنډي ورځي دي.

بل ځاي الله (ج) فرمایي : « قسم دي په نور او په ګرمي ددي او په سپوږمي هرکله چي تابعه شي په لمرپسي او په ورځي هرکله چي روښانه کړي هغه نوراو په شپه هرکله چي لمریت (احاطه) کړي » الشمس ۱-۳ پدي آیت کي د سپوږمي د ذاتي او روښنایي یادونه نده شوي حال دا چي دلمر په روښنایي قسم کړي دي سپوږمي یې دلمرتابعه ښودلي ده نوي ساینس دقران ددي آیت تصدیق کړي چي سپوږمي دلمرڅخه روښنایي اخلي.

دلیل د سورت په (۱) او (۲) آیتونو کي دحکیم خداي (ج) حکم دي : « قسم دي په شپه هرکله چي خلك تیاره احاطه کړي او په ورځ هر کله چي روښانه شي » .

(العمران د سورت په (۲۷) آیت کي هم ددي حقیقت وضاحت شویدي : «

« ته شپه په ورځ او ورځ په شپه کي ننباسي — »

د ابراهیم دسورت په ۳۳ آیت کي یې همدا مضمون بیان کړدي :

« ستاسي د فایدي لپاره یې شپه او ورځ لمراو سپوږمي تابع کړاي اوستوري ددهٔ په امر سره تابع کړي شویدي خامخا پدي کارکي دعقل دخاوندانو لپاره دخداي د قدرت علامي دي ».

د بني اسرائیل دسورت په ۱۲ ایت کي دوه نښي داسي څرګندوي :

« اوموږ شپه او ورځ د خپل قدرت علامي ګرځولي دي پس د شپي علامه مو ورکه کړه او ورځي علامه مو روښانه وګرځوله چي د خپل رزق طلب وکړي اودکلونو په شمار اوحساب پو شي او هر څیز مو په وضاحت سره بیان کړدي » .

په یو بل ځاي کي داسي لارښوونه شویده :

« ورته روایه که چیري الله تعالي پرتاسي دهمیشه لپاره تیاره خپره کړي هغه کوم معبود دي چي روښنایي راولي »

« — لمر او سپوږمي یې تابع ګرځیدي اوهریو ټاکل شوي نیټي پوري ګرځي دهرکارتدبیرکوي واضح دلایل بیانوي ترڅو تاسي دخپل رب په ملاقات باندي یقین وکړي » .

دیس د سورت په (۳۲ - ٤۰)آیتونو کي په واضح ډول دکائناتو په مظاهرو دغور اوفکر بلنه ورکوي

همدا ډول دالنبا، د سورت په (۳۳) آیت کي فرمایي : « او دي هغه ذات دي چي شپه او ورځ ، لمر اوسپوږمي یې پیداکړي چي هر یو په خپله دایره کي لامبو وهي ، او ددوي لپاره یې نښه داده چي لمر خپل دقراري ځاي ته ځي او دا اندازه عالم غالب خداي ټاکلي ده او دسپوږمي سره مومنزلونه ټاکلي دي ترهغه پوري چي دخرما د زړي څانګي په شان وګرځي ،لمر ته مجال (فرصت) نشته چي سپوږمي لاندي کړي اونه شپه د ورځي څخه مخکي کیدونکي ده اوټول ستوري په خپلواخپلوکي لامبو وهي » .

که چیري موږ د پورتنیو آیتونو په رڼا کي وګورو دا حقیقت به په ډاګه شي چي جغرافیایي ساینس داهم صحیح ثابت کړي دي.

فري مین اینډرف « د جغرافیي ضروري اصول » په نوم کتاب کي لیکي : « ځمکه پر خپل محور چاپېره ګرځي دځمکي محور ۲۳٫٥ درجي میلان پیدا کړیدي اودځمکي ورځني او کلني څرخیدل لاندي تغیرات رامنځته کړي

۱ - د ورځي او شپي اوږدیدل اولنډیدل .

۲ - دفصلونو (موسمونو) تغیرات .

۳ - دلمر دشعاعو سیده (سیخ) اوکږېریوتل .

دځمکي څرخیدل اومیلان انساني ژوند ته سمون بخښلي که نه ژوند ناممکن و که دانظام موجود نه و ددوبي ورځي به اوږدي او د ژمي ورځي به لنډي نه وي ګن ګڼ فصلونه به نه واو پدي ډول به فصلونو به یې المیزه کوله .که ورځي چورلیدل ۱۱۰۰ میله په ساعت کي واي نو شپه او ورځ به لس چنده اوږدي شوي واي چي ددغه ورځي دحرارت په وجه به دنباتاتو نه پرته نورخوځنده به ایره شوي واي اود شپي برودت به تردي حده پوري وچي ټول ژوندي او جمادات به د یخ په شکل بدلیدل.

پدي ترګه که چیري په کلني چورلیدنه کي لږ تغیر قدري هم راغلي واي نو ژوند به څرګند شوي نه و لکه څنګه چي دځمکي د پیدایښت په لومړنیو وختونو کي موجود ؤ.

ته شپه په ورځ په قطبینو کي دداسي فشار په موجودیت په د استوا خط اړوند سیمي شلیدلي وي د دي نه په ښه ډول جوته کیږي چي داکائنات دیو نظام اوپو قانون په سبب چورلیږي.

د ملك دسورت په (۳ - ٤) آیتونو کي داسي ارایه کوي « دالله دځمکي اوآسمانونو پیدایښت غیر متناسب ندي بلکي هم غږي اومتوازن دي » .

سرجیمز جنیز ددي کلمو داسي تصدیق اوتوثیق کړیدي :

« پدي کائناتو کي یو دقیق اوماوراء (پوري خوا) صناعي ،عدل اوتوازن پیداکړیدي » .

ساینس پوهان نن ورځ دځمکي دګردشکل په باب ثبوتونه تیاروي حال دا چي قرآن حکیم ځمکي ته د « ارض » کلمه استعمال کړي ده چي دګرد اوڅرخیدونکي معني ورکوي ددي په اړوند د رحمن دسورت په (۷) آیت کي دلوي څښتن بیان دي : « هغه د دواړو شرقونو اوغربونو څښتن دي » .

دیو هیواد د پرمختګ دار ومدار د معدنیاتو په راویستلو هم ولاړ دي په قران حکیم کي دي لور ته هم پاملرنه شویده دځمکي په پیداکولو کي دا هم یو حکمت دي .

دالزلزال دسورت په ۱۲ آیت کي فرمایي : « اوځمکه خپل بار بهر ته راوباسي » .

لدي نه څرګندیږي چي په ځمکه کي هرڅه شته ، ایا ځمکه پیژندونکي « اجیالوجست » دا دنده سرته نه رسوي ؟

تر قیامت ته نژدي پوري به یو څه بارونه بهر ته ویستل شوي وي اوهغه څه چي دننه پاتي وي هغه به هم دخداي (ج) په امر بهر شي . په تحقیق سره پدي آیت کي دمړو دبیا ژوندي کولو اودقبرونو څخه دویستو په لوري اشاره شویده.

د البقره دسورت په (۲۹) آیت کي یو بل ثبوت دا موضوع روښانه کوي :

« هغه لوي ذات دي چاچي ستاسي لپاره ټول هغه څه چي په ځمکه کي پرانه دي پیدا کړل »

ساینس پوهان نن ورځ ددي نتیجي په شا وخوا څرخي چي په کائناتو لومړي ګاز پیدا شویدي.

او د ستورو د ټوټو څخه شهاب ثاقب جوړ شو دوه کاره په دوه مرحلو کي سرته ورسیدل .

دحم السجده دسورت په (۱۱ - ۱۲) آیتونو کي دغه لور ته واضح اشاره شویده .

« بیا یې د آسمان د پیدا کولو لورته پاملرنه وکړه ، دي لوګي وي ... پس به دوو ورځو کي اوه اسمانونه پیدا کړل اوهر آسمان ته یې دهغه متاسب حکم ولیږلو اونږدي آسمان یې په ډیو سره ښایسته کړي اوساتنه یې کوي داکار دغالب اوعالم خداي (ج) دي »

دآسمان ساتنه په څه کیږي؟ ښکاره ده چي دشهاب ثاقب (لویدونکو ستورو) په ذریعه .

د الطور دسورت په (٤٤) آیت کي الله (ج) فرمایي اوکه دوي دآسمان یوه ټوټه راغورځیدونکي وویني نو ویه وایي چي دا لاندي پاندي وریځ ده » .

کافران وایي آیا تاسي ؟ که چیري په سالم عقل سره غورروکړئ نو دا به معلومه شي چي رحمان خداي (ج) موږ ته پدي آیت شریف کي داتوم نظریه وړاندي کړیده.

د اتوم په باب په قرآن حکیم کي څرګنده اشاري شویدي . په ۱٤ پاره دابراهیم د سورت په (٤٦) آیت کي دارنګه لارښوونه کیږي . « هغو خلکو پټ تدبیرونه کړي دي او دهغوي دتدبیرونو حال الله (ج) ته معلوم دي دا تدبیرونه داسي قهرجن دي چي غرونه ورڅخه چپه کیږي »

همدارنګه د همدي سورت د (٤٥) آیت خلاصه داسي ده:« هغوکسانو چي د نورو دتباهي په اړوند خطرناکه تدبیرونه یا ایجادات کړدي آیا د خداي څخه نه ویریږي چي ښایي دهمدغو ایجاداتو(تدبیرونو) په ترڅ کي دهمدوي په لوري ځمکه وچوي او همدوي په خپله پکي راګیرشي ،

یاددوي د اول بدل (مکر) له کبله بل ډول تباهي راشي یا دغه کسان چي دکوم څیز څخه ویره لري هغه وریښته شي یا داسي مصیبت پري نازل شي چي وهم اوګمان یې هم نکوي دا د رحمان خداي (ج) رحم دي چي تري یې سائلي ده »

نوربیا

دننګرهار د حربي ښوونځي اودښوونکو دروزني دانستیټیوت آزموینه پیل شوه

جلال اباد غبرګولي (۱٤) مه :

دننګرهار دښوونکو دروزني د انستیټوت دمحصلینو د دوهم سمستر آزموینه ورمه ورځ ددغه انستیټیوټ داستادانو له خوا پیل شوه .

دشهادت خبر یال لیکي په دغه ازموینه کي چي (۷) ورځي به دوام وکړي ددغه انستیټیوت لږتر لږه (۳۰۰) کسه محصلین شامل دي.

دننګرهار د ښوونکو دروزني دانستیټیوت رئیس عبدالغني هدایت ویلي چي دمحصلینو څخه درياضي فزیك ، کیمیا ،بیولوژي ، اجتماعیاتواوتوروعمومي مضامینو آزموینه اخستل کیږي.

دیوه بل خبر له مخي ویل کیږي چي ورمه ورځ دننګرهار دحربي ښوونځي کلني آزموینه هم دنوموړي ښوونځي داستادانو له خوا پیل شوه .

خبرځاي لیکي پدي آزموینه کي چي (۱٥) ورځي به دوام وکړي (۱٥۰) زده کوونکي ګډون لري اونوموړي ښوونځي په تیرو دوو کي (۷۰) زده کوونکي ټولګي ته وړاندي کړي دي.

دجهاد د اتلانو یاد

شهید عبدالعزیز

شهید عبدالعزیز دمرحوم غلام حیدر آهنګر زوي دلغمان ولایت د چهلمهتو دکلي په یوه غریبه اودینداره کورني کي زیږیدلي و دکمونستانو پرضد دڅوکاله مسلسل اوددوام دار، جهاد څخه وروسته نوموړي ورور د ۱۳۷۰ کال د جوزا دمیاشتي په ۲۰ / ۲۱

شپه دمیدانیو له کلي نه هغه ځاي ته ورځره کتلو کي دکمونستانو دکمین په نتیجه کي په شهادت ورسید.

روح یې دي ښاد وي .

د رباني اومسعود انحصار طلبي

پرون موهم قاس نیولي ؤبامیان او د بامیانو شاوخوا ټول کلي دوحدت اسلامي دقواوو په لاس کي او بشپړ امنیت پکي قایم دي او هیڅ ډول ستونزي پکي نشته واحدي وویل چي دافغانستان په شمال کي کرم تحرکات چي دکابل اداري په لار اچولي د هغه په بشپړه دهماهنګي شورا دځواکونو له خوا ختنثي شوي .

دکابل اداري د هغه ادعا په ځواب کي چي دختجانو جګړه لومړي دجنبش له خوا پیل شوي ، واحدي وویل :

داخبره په بشپړه ترګه بي بنیاده ده بلکي جګړه لومړي دکابل اداري له خوا پیل شوي ده

وي او ددوي همداانحصار طلبي ده چي دجګړي سبب ګرځي.

ده وویل چي تاسو به دجنبش ملي اسلامي دوباند په مرکه کي اوریدلي وي چي ویلي یې دي چي له یوي خوا دولت ورسره دجوړي روغي خبري پیل کړي وي او له بل طرف څخه یې په عین زمان کي غوښتل چي په جنبش باندي حمله وکړي.

ده ددي پوښتني په ځواب کي چي تاسو اوس د بامیانو اوختجانو سره کومي اړیکي لري وویل دبامیانو سره موږ اړیکي لرو او دا نن موهم دیي سیم په وسیله خبري کړي او

راځي خپل دين زده کړو

دطهارت (پاکي) بيان :

د پاکي دهمدي اهميت په پام کي نيولو سره قرآن کريم ځر ځر ځايه ددي ترغيب ورکړي او په دوه ځايونو کيني ځر الله (ج) خپل هغه بندګان چي د پاکي اونظافت پوره خيال ساتي خپل دوستان ګڼلي دي .

"والله يُحب المطهرين" (الله (ج) هغه خلك چي ځانونه ښه پاك ساتي خوښوي) التوبه – ۱۰۸ . او په بل ځاي کيني فرمايي :

" إن الله يحب التوابين ويحب المتطهرين " (په تحقيق سره الله (ج) له هغو کسانو سره چي ډيره توبه کوي محبت لري او له هغو کسان سره محبت لري چي ځانونه ښه پاك ساتي) البقره – ۲۲۲ .

رسول الله (ص) په خپله دپاکي اونظافت بي مثله شخصيت ؤ او په امت يې هم د پاکي ډير تاکيد کړي دي او په مختلفو ډولونو سره يې دهغي اهميت بنودلي اوپاك اوستره اوسيدو ترغيب يې ورکړي دي هنداالامل دي چي فرمايي " پاکي دايمان نيمايي برخه ده " بياپردي سربيره دپاکي احکام يې ښه په ښه ځرګند ډول او تفصيل سره ښودلي دي دپاکوالي طريقي يې بيان کړي خپله يې هم پري عمل کړي دي او پرهغي دپوهولو يې هم پوره حق اداکړي دي . (نوربيا)

شهادت

دېچانا شارااست سلی ساحت تيم ... تابرسوم گرې باشيد ... پيامبر...

ارگان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

شمارهٔ مسلسل (۹٤٦) سه شنبه (۱٦) جوزاي ۱۳۷٤ هـ ش

فرمان الهي

او هغه کسان چي ايذا رسوي مؤمنانو سړيو او مؤمنو ښځو ته (په اتهام) بې له دي چي هغه کار دوي کړي وي (په ناکړي کار) نو په تحقيق سره دوي په خپل ځان غټ دروغ اوښکاره ګناه باروي .

الاحزاب – ۵۸

ارشاد نبوي

له حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي چي رسول الله (ص) فرمايلي دي : دچا په سينه کي چي له قرآن کريم نه هيڅ نه وي دهغه سړي مثال د وران کور دي .

(الترمذي)

درولسوالى هاى رويى دوآب ودرهٔ صوف ولايت سمنگان مقادير زياد اسلحه ومهمات به تصرف مجاهدين درآمد

ايبك – ۱۵ جوزا :

نيروهاي شوراي عالي هماهنگي مراكز ومواضع جنگجويان ادارهٔ كابل رادرولسوالي هاي دره صوف وروي دوآب ولايت سمنگان تحت ضربات كوبندهٔ خويش قرارداده اند .

يك منبع خبر گزاري حزب وحدت اسلامي افغانستان گزارش داد كه بعدازظهر ديروز نيروهاي شوراي عالي هماهنگي درولسوالي دره صوف ولايت سمنگان مراكز جنگجويان ادارهٔ كابل راتحت حملات وضربات كوبندهٔ خويش قرار دادند كه درنتيجه چندين سنگرمستحكم آنها را تصرف شده هفده تن ازافراد آنانراهلاك وچندين تن ديگر شان رامجروح ساختند .

درگزارش آمده است نيروهاي شوراي عالي هماهنگي طي اين عمليات ظفر آفرين چندين مراكز وپايگاه هاي عمده نيروهاي ادارهٔ كابل را تسخير نموده علاوه براين چهار پايه دافع هوا، دوپايه توپ ۷٦ صحرا، دوپايه توپ ۷۵ ملي متري ،يك پايه هاوان وسط يك ميل زيكاويك ،يك دستگاه بي ام ۱۲ ،يك ميل دهشكه ، دوقبضه راكت انداز آر پي جي ۷ يك عراده برد م ، دو عراده موتر جيپ وچار پاپ ديپوي مهمات مختلف النوع دشمن رانيز متصرف شدند .

قراريك گزارش ديگر ديروز مناطق آهنگران ، قلم قول ، زي هند و ، وزي سرگين ، دشت تور قلعه وبيخ كمر ولسوالي روي دو آب نيز از وجود افراد جنگ طلب اداره كابل تصفيه گرديد .

گزارش مي افزايد كه طي اين عمليات يكصد ميل كلاشنكوف ومقدار زياد اسلحه ثقيل وخفيف معهٔ مقداري ازمهمات به دست نيروهاي شوراي عالي هماهنگي افتيده است .

درگزارش علاوه شده كه نيروهاي شوراي عالي هماهنگي كنترول ولسوالي مذكور را بدست گرفته قواي شكست خورده شوراي نظار را تعقيب مينمايند .

مراسمي به مناسبت ششمين سالگرد رحلت امام خميني درايران برگزار شد

تهران ۱۵ جوزا :

رهبران ايران ششمين سالگرد درگذشت آيت الله خميني را با محكوم كردن تحريم اقتصادي ايران ازطرف امريكا برگزاركردند .

به گزارش رويتر آيت الله خامنه يي رهبر مذهبي ايران درين مراسم گفت امريكاميخواهد جلوايرانيان رادرتوسعه كشور شان بگيرد .

وي كه دراجتماع بزرگي درآرامگاه آيت الله خميني درجنوب تهران صحبت ميكرد، گفت : دولت امريكا ميخواهد نشان دهد كه اسلام برابر بافقر است ودولت اسلامي قادر به ادارهٔ امور خودنيست .

درين مراسم رفسنجاني رئيس جمهور ايران نيز صحبت نموده طي سخنان گفت كه انقلاب اسلامي براي هميشه پايدار خواهد ماند وهركوششي براي تحت فشار قراردادن ايران فقط منجر به اتحاد بيشتر ايرانيان خواهد شد .

دسيد نورالله " عماد " په مشري دکابل اداري يو هيئت جلال آباد ته راورسيد

جلال آباد دخبرگولي (۱۵) :

د جلال آباد د ښار څخه دشهادت خبريال خبر راکوي چي ورمه ورځ د ننګرهار د جهادي شورا په نوښت دجهادي مشرانو دراغلل شوي غونډي د پيل کيدو له پاره دکابل اداري يو هيئت دسيد نورالله "عماد " په مشري جلال آباد ته راورسيد .

د "داکار" انټرنشنل موسسي کارګران دمعاشونو دنه ورکولو له امله خپل مسئولين يرغمال کوي

کابل دخبرګولي (۱٤) :

دکلونو کلونو را پديخوا د داکار انټرنشنل موسسي په سوونو کلو کي کارګري اوزيات وران شوي کورونه بي آباد کړي دي .

له کابل څخه په رارسيدلو خبرونو کي ويل کيږي چي اوس په دغه موسسه هغه مرستي چي دنړيوال غذايي پروګرام د اداري له خوا ورکول کيدل بندي شوي اوخپل کارګران بي دشپږو مياشتو له معاشونو څخه محروم کړي دي .

په خبر کي ويل شوي چي دنوموړي موسسي کارګرانو ته به د پيسو په مقابل کي غنم ورکول کيدل دا غنم اوس دنړيوال غذايي پروګرام له خوا کم شوي اوکارګرانو ته نه رسيږي ، همداوجه ده چي دهغوي دشپږو مياشتو معاشونه معطل شوي دي .

خبر ځاي زياتوي چي اوس دنوموړي موسسي کارګرانو تصميم نيولي ترڅوخپلو معاشونو په مقابل کي خپل مامورين يرغمل وليسي اوخپل معاشونه په همدي ډول ترلاسه کړي خو دموسسي مسئولينو داخبردروغ بللي اوويلي دي چي داخبري يوازي زمونږ دبدنامولو له پاره کيږي .

دتګاب ولسوالي مسلمانو خلکو :

دکابل اداري له واکمنو څخه خپله زوره کرکه ځرګند کړ

کاپيسا دخبرګولي ۱۵ مه :

دکاپيسا ولايت دتګاب ولسوال څخه راغلي عيني شاهدان وايي چي اوس دکابل اداري ځان غوښتونکو واکمنو رباني اومسعود پريکړه کړي چي دخلکو زامن په زور د جګړي په ميدان کي ورګډ کړي او دخپلو مسلمانو وروڼو په مقابل کي يې وجنګوي .

نوموړي شاهدان وايي چي څو ورځي وړاندي دنظارشورا دمشرمسعود ترقوماندي لاندي دکابل اداري پلورل شوي غلامان دتګاب ولسوالي ته راغلل اودنوموړي ولسوالي (۵۰) کسه يې په زور دجګړي له پاره راټول اودځان غوښتني دجګړي په ميدان يې ورګډ کړل .

شاهدان وايي چي ورمه ورځ د نوموړو (۵۰) کسان څخه د (۵) کسو مړي اود (۷) کسو ټپيان دتګاب ولسوالي ته راورسيدل چي په نتيجه کي تګاب خلکو دخپلو مړو په ليدو سره دکابل اداري له واکمنو څخه خپله کرکه او نفرت ځرګند کړ .

اودخپلونورو (۳۷) ورکړشويو کسانو د پيداکيدو غوښتنه يې وکړه شاهدان وايي چي داسي ويل کيږي نور پاتي کسان دجګړي له ميدان څخه تښتيدلي اودمړګ ژوبلي په باب يې کوم رپوټ ندي ترلاسه شوي .

دزدان ادارهٔ ائتلافي کابل اموال اهالي چهار آسياب راغارت کردند

چهار آسياب ۱۵ جوزا :

دزدان حرفوي شوراي نظار روز گذشته دراطراف ولسوالي چهار آسياب دست به چور وچپاول اموال مردم زدند .

گزارشگر راديو پيام آزادي از ولسوالي چهار آسياب خبرميدهد دزدان حرفوي شوراي نظار در قريه دشتك دست به چور وچپاول منازل مسكوني زده وتمام اجناس قيمتي از قبيل زيورات وپول نقد اهالي قريه مذكور را سرقت نموده واز چندين خانه ديگر نيز اجناس قيمتي رابه بهانه هاي اينكه باطالبان ارتباط دارند ويامتعهدين حزب اسلامي افغانستان هستند سرقت نمودند كه اين عمل شان باعث نفرت وانزجار اهالي شريف ولسوالي چهار آسياب گرديده است .

د روسيي دسخالين په ټاپو کي :

ديوي بلي زلزلي دکيدو له امله خلك دسختي وارخطايي سره مخ دي

مسکو – دخبرګولي (۱٤)

د روسيي دسخالين په ټاپو کي يوه بله زلزله شوي ده او د نوو تلفاتو اومالي تاوانونو په باره کي تر اوسه کوم رپوټ ندي ورکړشوي د ايتارتاس خبري آژانس وايي چي دي زلزلي داسي ويره را پيدا کړي چي د دغه سيمه کي به نور ټکانونه هم راشي نوموړي آژانس وايي چي دغه د روسيي ټکان دنفتي ګور دښارګوټي په شمول دسخالين په شمالي برخو کي هم احساس شوي دي .

درګيري درشرق شهر دوشنبه هفت کشته وتعدادي زخمي برجاي گذاشت

دوشنبه – ۱۵ جوزا :

هفت مجاهد تاجكي و دوسرباز دولتي تاجكستان در يك درگيري جان خود رااز دست دادند .

انترفاكس خبر گزاري رسمي دوشنبه ازقول معاون وزير امنيت تاجك گزارش داده است كه سربازان دولتي چهارنفر ديگر از مبارزين تاجكستان رااسير نموده اند .

درگزارش آمده است درمنطقه خم دوشرق دوشنبه پايتخت تاجكستان درگيري شديدي ميان مبارزين تاجكي وعساكردولتي تاجكستان رخ داد كه درنتيجه اين درگيري پنج تن از مبارزين تاجك شهيد وچهارتن ديگر آنان اسير گرديدند .

درخبرآمده است كه در ين درگيري دونفر ازعساكردولتي كشته وچند تن ديگر نيز مجروح گرديده ويك موترنظامي آنها طعمه حريق شده است .

به مناسبت وفات امام خميني مراسمي دركابل برگزارشد

كابل – ۱۵ جوزا :

روز يك شنبه درمساجد وحسينيه هاي شهركابل مراسم سالگرد وفات امام خميني رهبرفقيد ايران برگزار گرديد .

خبرهاي رسيده ازكابل حاكيست كه مسجد امام خميني ،حسينيه مدينة العلم ،بنياد فرهنگي غزالي ، مساجد وحسينيه هاي قلعه فتح الله ،وزير آباد ، چنداول ، قلعه شاده ، دشت برچي وتايني شاهد مراسمي بمناسبت وفات امام خميني بود .

درين مراسم صدها نفر ازمسلمانان اهل تشيع به مناسبت سالگرد امام خميني سوگواري نمودند .

طبق يك خبرديگر در سفارت ايران دركابل نيز مراسمي برگزار گرديده بود كه آقاي غلام رضا حدا دي سفير ايران دركابل طي سخناني بااشاره به اينكه نهضت امام خميني ، ادامه قيام پرشكوه وتاريخ ساز امام حسيني است اظهار اميد واري كرد انقلاب ها ونهضت هاي اسلامي در آينده نيز ازعمل كرد آنان پيروي كنند .

ناآرامي درشهر

دستگيرنموده اند كه ميخواستند وسايل نقليه مردم را آتش بزنند .

گفته ميشود كه شهر كراچي اكنون به حالت ركود درآمده مردم باقلت مواد غذايي دچار اند .

لويديز متحدين خپل (۱۰) زره عسکر بوسنيا ته ليږي

پاريس د خبرګولي (۱۵)

لويديز ومتحدينو موافقه وکړه چي ډير ژر به پولس زره کسيز پوځ بوسنيا هرزګوونيا ته د ملګرو ملتونو دسوله ساتونکو سره دهمکاري له پاره وليږي .

د فرانسپرس خبري آژانس وايي چي ددي عسکرو زياته برخه برتانوي اوفرانسوي عسکرو جوړه کړي ده .

نوموړي آژانس وايي چي متحده ايالات به هم نوموړي پوځ دقوي کولو په خاطر وسپاري

نوموړي آژانس وايي چي دافيصله دورمه ورځ په پاريس کي دناتواواروپايي اتحاديي دغړو ملکونو ددفاع دوزيرانو په غونډه کي وشوه .

دسيار ضربتي غنډ خبرتيا

ټولو قوماندانانو ،مجاهدينو او هيوادوالو ته خبر ورکول کيږي چي دسيار ضربتي غنډ دقوماندانۍ له خوا دخپلو مربوط مجاهدينو دپيژندګلوي له پاره مخصوص کارتونه ورکړي شوي دي. هر هغه څوك چي دقوماندان زرداد دمجاهد له نامه څخه ناوړه ګټه اوچتوي بايد دکارت پوښتنه ورڅخه وشي او دکارت دنشتوالي په صورت کي دغه شخص دسيار ضربتي غنډ مربوط نه ده اودخپل جرم مسؤليت په خپله غاړه لري .

خبرتيا

دجمعية قطر الخيرية مربوط ټولو هغو يتيمانو ته چي کفالتونه يې رارسيدلي دي خبر ورکول کيږي چي د کفالتونو توزيع دجون دمياشتي په (۱۳) تاريخ دسي شنبي په ورځ شروع اودجولايي دمياشتي تر (٦) تاريخ دپنج شنبي تر ورځي پوري دوام لري .

توزيع په لاندي ډول شروع کيږي :

۱ – دکارت نمبر (۱) څخه ترکارت نمبر (۱۰۰۰) پوري —
د (۱۳) تاريخ څخه تر (۱۹) تاريخ پوري .

۲ – دکارت نمبر (۱۰۰۱) څخه تر کارت نمبر (۲۰۰۰) پوري —
د (۲۰) تاريخ څخه تر (۲٦) پوري —.

۳ – دکارت نمبر (۲۰۰۱) څخه تر کارت نمبر (۲۹۱٤) پوري —
د (۲۷) تاريخ څخه تر (۳) تاريخ د جولاي پوري .

دجولاي دمياشتي د (٤) تاريخ څخه تر (٦) تاريخ پوري دهغو يتيمانو لپاره به توزيع وي کوم چي په خپل نوبت کي حاضر شوي ندي .

نوټ : ۱ – هغه يتيمان چي تير ځل يې عکسونه نه وه راوړي بايد له ځان سره دوه قطعي عکسونه راوړي .

۲ – ديتيم دمور راتګ ضروري دي اوکه چيرته ونشواي چي وکيل وټاکي نو په هغه صورت کي بايد وکيل سره د دوه قطعي عکسونو هم حاضر شي .

آدرس : ګودام سنګي / جلال آباد جمعية قطر الخيرية . په احترام

اداره

Kauthar English Language Center

KELC

مرکز لسان انگليسي کوثر

به اطلاع تمام برادران وخواهران رسانيده ميشود كه جهت ثبت نام به صنوف Beginner , Level One,Level Two . Level Three, level four, Intensive , Advance One , Advance Two وصنوف گرامر به اداره مركز لسان انگليسي كوثر تشريف بياورند .

قابل ذكر است كه پروگرام هاي اسلامي وتربيوي مانند كورس تجويد قرآنكريم ، درس هاي جهان بيني وآيديالوژي اسلامي وكنفرانس هاي آموزشي ضميمه برنامه هاي مركز لسان انگليسي كوثر بوده وشاگردان كورس وخارج كورس مي توانند در اين بخش ها ثبت نام نمايند .

نوټ : صنوف خواهران جداگانه بوده وتوسط استادان اناث تدريس مي گردد .

ثبت نام : از June4 -95 الي June16 95 همه روزه ازساعت يك ظهر الي هفت ونيم شام ادامه دارد .

آدرس : ارباب روډ بوستان انترنيشنل سكول .

Tel:841164

شهادت

بيانګرعقايدوآرمانهاي حزب اسلامي افغانستان

صاحب امتياز: حزب اسلامي افغانستان

مؤسس : انجنيرحکمتيار

ناشـر: رياست ارشاد وفرهنگ

تحت نظر هيئت تحرير

آدرس : جلال آباد چکنوري

حساب بانکي : ۸۵۲٦٤ دافغانستان بانك

تيلفون : ۲۹۲٦

آدرس پستي : ۱۰۳٦ يونيورسټي ټاون پشاور

اخبار کوتاه جهان

خراليسا رئيس جمهور لهستان خواهان تجديد روابط باروسيه شد كه بردوستي وآشتي بنا شده باشد . وي درمراسمي صحبت ميكرد كه به مناسبت سياه ترين دوره هاي رابطه بين دوكشور برگزارشد .

***

درنتيجه اقدامات شديد امنيتي درچين ، ششمين سالگرد سركوب جنبش طرفدار دموكراسي درميدان تيانمن به آرامي سپري شد .

بزرگترين مركزنيروهاي امنيتي دراطراف پوهنتون پيكنگ بود كه از آمد وشد درراه هاي منتهي به اين پوهنتون جلوگيري به عمل مي آورد .

***

دشمالي کوريا اومتحده اياالاتو مذاکره کوونکو موافقه کړي چي دشمالي کوريا داتومي جنجال په باره کي به ددوشنبي په ورځ په کوالالمپورکي خبري پيل کړي .

***

دچين حکومتي مقاماتو دتيامين دميدان په شاوخوا بانديي په دغه ميدان کي د ديموکراسي د طرفدارومظاهرو دځپلو دشپږمي کليزي په مناسبت ډيرسخت امنيتي ترتيبات نيولي دي .

***

دالمان صدراعظم هلموت کول دمصر له جمهوررئيس حسن مبارك سره دقاهري په يوه ګډمطبوعاتي کنفرانس کي دمنځني ختيځ په ملکونو بانديي غږ کړي چي ديوي دوام داري سولي دراوستلو له پاره دي يو له بل سره اړيکي ښي کړي .

***

دسريلانکاجمهور رئيس ميدريکاکوماراتونګادسريلا يو، عمده مخالف ګوند پدي خبره تورن کړي چي هغه ددغه هيواد په جنوب کي په جنګ جګړو کي لاس لري .

***

يك مامور بلند پايه وزارت تجارت خارجي چين پاليسي تجارتي امريكا را جنجال برانگيز خوانده گفته است كه اين روش مشكل عمده رادرمناسبات بين چين واياالات متحده به ميان آورده است .

***

دهانګ کانګ حکومت پدي خوشحاله دي چي د امريکا جمهور رئيس بل کلنټن چين ته په تجارت کي دامتيازاتو ورکولو فيصله وکړه او پدي توګه يې دتجارت موضوع په چين کي دبشري حقوقودوضعي نه بيله کړه .

***

يك قايق كه توسط صليب احمر بين المللي اداره ميشد درساحل شمالي سريلانكا بعد از برخوردباماين بحري كه توسط شورشيان تاميل تعبيه شده بود منفجرشد ودوازده سرنشين آن لادرك ميباشند .

***

تعداد تلفات زلزله هفته گذشته در جزيره ساقالين روسيه اكنون به يكهزار وپنجصد نفر رسيده وهنوز هم در حال افزايش است .

مامورين حكومتي ميگويند اجساد ۹۰۰ / نفر ديگر هنوز هم زيرخرابه هاي عمارات باقيمانده است .

***

حريق در ليليه محصلين خارجي پوهنتون مسكو چهار قرباني برجاي گذاشت وبعد از يك ساعت خاموش شد .

***

مامورين روسي وپولندي از پنجاه وپنجمين سالگرد قتل عامٌ كاتين يادبود به عمل مي آورند . دركاتين هزاران تن ازصاحب منصبان اردوي پولند توسط پوليس مخفي اتحاد شوروي سابق كشته شده بود .

***

دسرمقالي پاتي

ختيځ اومرکزي اسيا په هيوادوکيني دلويديځ دګټو دمخنيوي په خاطر هڅي کوي چي د غربي نړي پرخلاف دايران ملاترو کړي اوهم دغه هيواد پر اتومي خواك وارووي .

پردي سربيره روسان هڅي کوي چي دمرکزي آسيا په هيوادو کيني پخواني کمونيست اوناسيونالېزم ته مايل کسان واکمن کړي او دا په دي خاطر چي دغه ډول کسان کيداي شي هم روسيي ته وفادار پاتي شي اوهم دامريکا دګټو پرخلاف عمل وکړي ، ځکه چي دغه مشران دکمونيزم له ماتي وروسته له خپل ځان سره کومه انګيزه اوموټره ايډيالوژي نه لري ، له همدي امله مجبوردي چي دخپل ناسيونالستي احساس پر اساس دامريکا په مقابل کيني روس ته وفادار پاتي شي .

په همدي خاطر روس اوهند په افغانستان کيني پراخه لاسوهنه پيل کړي ده اودانتلاقي اداري هر اړخيز ملاتړ کوي ، له دي امله ائتلافي اداري دخپل انحصاري سرچ اوفکر پر اساس هڅي پيل کړي دي ، چي په ظاهره خپلو مخالفينو ته دخبرو اترو ته ورکړي اوپه عملي توګه يې پر خلاف نظامي عمليات پيل کړي .

ددي ادعا دثبوت له پاره په لاندي دوو مثالونو اکتفا کوو :

۱ – کله چي په کندهارکيني د طالبانو غورځنګ راپورته شو او دحزب اسلامي پرخلاف يې په جګړو پيل وکړ، دائتلافي اداري رئيس دخپري رسنيو په وړاندي ځرګنده کړه چي ددغه غورځنګ ملاتړ کوي او خپلو قوماندانانو ته يې ويلي دي چي وسلي ورته وسپاري ، خو کله چي حزب اسلامي ونه غوښتل چي د طالبانو پرويتو خپل لاسونه سره کړي اوهم دکابل په جنوب کيني له يوه بل دښمن سره لاس وګريوان شي ، تاکتيکي په شاتګ يې وکړ ، بيا همدغه ائتلافي اداره وه چي دکابل په جنوب کيني يې دخپل اقتدار دبقا په خاطر دسرونو طالبانو پر وينو لاسونه سره کړل .

۲ – په دي تيرو ورځو کيني يې د روس په منځګړيتوب له جنبش سره دروغي جوړي خبري اتري پيل کړي ، خو چي کله يې وليدل چي خبرو اترو له لاري پرمخ تلاي نه شي ،نويې په ختجانو کيني دهماهنګي دشوري پرځواکونو پرغلونه پيل کړل .

دائتلافي اداري نظامي اوسياسي تحرکات ځرګندوي چي هغوي دخبرو اترو ميز ته حاضر بدل يوازي دنظامي تياري له پاره يوه ښه موقع اوزمينه ګڼي ، اوداځل هم کيداي شي دجلال آباد په مذاکراتو کيني د ائتلافي اداري دمشرانو ګډون دکومي نظامي مانوري دعملي کولو له پاره دموقع ترلاسه کول وي ، لکه په (۱۷۲) هـ ش کال کيني يې چي دجلال آباد دمذاکراتوپروخت په پروان کاپيسا کيني نظامي عمليات پيل کړل . دننګرهار جهادي شوري بايد د ائتلافي اداري واکمن دي ته وهڅوي چي په اخلاص سره په دغو خبرو اترو کيني ګډون وکړي .

اودخپل نيمګړي اقتدار د دوام په خاطر دمظلوم ملت ترور وينو توئيدولو ته زړه ښه نه کړي اوکه نه لري نه ده چي دډيرلو مطرحو جهادي ګوندونو په ګډون دائتلافي اداري درانسکوروولو له پاره يو ځواکمن اپوزيسيون رامنځته شي .

دکوټ دمحصلينو داصلاحي شوري غړي وټاکل شول

جلال اباد – دخبرګولي (۱۵) :

دننګرهار ولايت دکوټ ولسوالي څخه په نوموړي ولسوالي کي د ځوانو محصلينو داصلاحي شورا اداره خبرراکوي چي د روان کال دخبرګولي دمياشتي په (۱٤) مه نيټه دنوموړي شوري غړو دټوګم هډي په جامع جوماث کي ديوي غونډي په ترڅ کي محترم الحاج مولوي عبدالحبيب دشورا دناظم اومحترم داکتر محمد ظفر يې دغه دمرستيال په توګه وټاکه .